
Made with Xodo PDF Reader and Editor

ناول

# ستړې مزل



لیکوال: میرعالم شینواری

Made with Xodo PDF Reader and Editor


پیسي خو هسې یو رواج دی د ثواب پکې څه نشته

زما په جنازه کې دې تقسیم شي کتابونه

بسم الله الرحمن الرحیم

رحماني کتابتون

د ځوانانو د ذهنونو روزنتون .!

📌 یادونه : په ټلیګرام کې رحماني کتابتون په سرچ

سره هم پیدا کولای شئ که ئې په انګلسي سرچ

کړئ یا هم پښتو ملګرو .!

**Rahmani library**

**رحماني کتابتون**

Made with Xodo PDF Reader and Editor

RAHMANI
LIBRARY
رحمـــــاني کتابتون

زما ګرانه وروره او ګرانې خوري ! 💐

منم چې ته د کتاب مینوال / مینواله يې .!
ایا په خپل چاپیریال کې مو ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان هم مطالعه کوي ؟
که مو ځواب هو وي خو ډېر ښه خپل مسؤلیت مو په په سمه توګه ادا کړی
او سل ځله دې در باندې آفرین وي ، خو که دغه کیسه برعکس وي او ستا
ملګري ، کورنۍ ، ګاونډیان او داسې نور ، په مطالعه نوې روږدي نو زما په
نظر ته خود خوا او مجرم يې .!
ځکه چې تا د کتاب لوستلو خوند ښکلی ، نو تا باید نور خلک هم د کتاب
له دې نا آشنا خوند سره بلد کړې وای ، نو راشه اوس هم نده نا وخته راشه
اوس یو ځای کتاب لوستلو ته خلک وهڅوو .!
تر څو آینده نسل مو تعلیم یافته او د نړۍ سیال وي .!

د سرلوړې اباد او سوکاله افغانستان په هیله .!

په درنښت | د رحماني کتابتون اداره 📚

د رحماني کتابتون سره د یو ځای کیدو لپاره له انټرنیټ سره وصل شئ ،
او تاسو باید د ټلیګرام اکونټ ولرئ بیا په دغه لاندې [ Join ] بټنه
باندې کلیک وکړئ ، تر څو زمونږ د کتابتون له کورنۍ سره یو ځای شئ .!

JOIN

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ژوند یوې داسې سیمې پر لور په مخه کړم، چې یواځې مې د هغې په اړه جغرافیه کې لوستي و او ما یې د لیدلو هیله درلوده، همدې هیلې لاپسې واخیستم، سفر مې په ډېرو کړلېچونو، غرونو او دشتو راتیر کړ او په دې مزل کې یوې داسې غرنۍ سیمې ته لاړم چېرته چې مې د ښاپیریو په یو ښار کې د خپلې مینې مړې ډیوې ته هیلې راتاندې شوې. دا سیمه د هسکو غرونو او ځای ځای د شنو ورشوګانو په طبیعي ښکلا پنځول شوې وه.

دا سیمه د کال په اوږدو کې ډېری وخت په سپینو واورو پوښلې وي او یوه لنډه موده یې د سپرلي ښکلا ته هم ځانګړې کړې. په ټوله کې دا چاپېریال په دنګو غرونو راچاپېر دی، دلته د ژوند چارې ډېرې محدودې او په ساده ډول پر مخ رواني وې، دلته د مادي نړۍ مصنوعي ښکلا او دنګې ماڼۍ نشته، دلته ژوند انسان ته د کائناتو لومړي خلقت اسطورې ور په زړه کوي. خلک یې اوس هم د طبعیت په حقیقت کې د خوشحالۍ نڅا کوي، دلته د انسان په لاس مسخه شوی طبعیت وجود نه لري، هر څه په هماغه طبیعي او لومړنۍ ښکلا پنځېدلي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په دې سوچه چاپېريال کې ژوند کول انسان له مادي نړۍ څخه يو څه لرې بيايي چېرته چې د ژوند ټولې خوشحالۍ يواځې په ريښتيني مينې او عاطفې کې نغښتې وي. دوی د مصنوعي او ځانخوښې ژوند څخه ډېر لرې دي، له خونخوارې نړۍ يې کډه کړې او د طبعيت په خاموش چاپېريال کې د ارامۍ او هوساينې ساه اخلي. دلته کرکه او نفرت نشته. دلته هېڅوک له ژونده ډار نه لري، تر نيمو شپو ځوانان، پېغلې او بوډاګان تاوده بنډارونه کوي. د فکر ټالونه يې د ستار په راګونو کې نغمې زمزمه کوي.

ما په لومړي ځل له داسې خلکو سره پېژندګلوي وکړه، چې کله هم د هغوی له دود او دستور سره اشنا نه وم. د دې سيمې نجونې د ښکلا په ملکو شهرت لري، چې په لېدو يې د انسان په زړه کې د ښاپېريو ښار انځورېږي. په همدې سېمه کې مې خيال الوت کوي او د مينې کيسه مې په زمزمو راځي.

*********

د غونډۍ په تالار کې تر ګردي ميز شاته يو شمير نارينه او ښځينه ناست و، په دريغ باندې ويناوال خپله وينا پيل کړې وه، د منځني عمر ځوان به يو دوه بيتونه وويل او بيا به يې يو يو وينا کوونکي په خپل وار دريغ خواته راغوښت. په تالار کې ښځينه هم د نارينو په منځ کې تر ګردي ميزونو راچاپېره وې، لا مې د ټولو سره پېژندګلوي نه وه شوې. تالار تر نيمايي ډېر له خلکو ډک و، زه هم په خپل وار دريغ ته ور وبلل شوم څو ګډونوالو ته خپله وينا پيل کړم، ما يو څه د مخه ځان چمتو کړی و او د خپلې وينا لپاره مې غټ غټ ټکي له ځان سره يادانبت کړي و.

د بلوونکي له وينا سره له ځايه جګ شوم. څنګ کې ناسته ملګرې چې د مخه يې پېژندلم را سره ولاړ شو، د دريغ پر لور مې قدم

Made with Xodo PDF Reader and Editor



واخیست، خپل موبایل ساعت ته مې وکتل تر څو د وینا لپاره خپل وخت قید کړم، د تالار خلکو ته مې ښه راغلاست ووایه، ټول ګډون وال زما د وینا لپاره متوجه و، د کاغذ ټکړه مې د دریځ پر سر کېښوده او د بسم الله ویلو وروسته مې یو څو ایاتونه تلاوت کړه، چې ورپسې مې یو حدیث مبارک هم تېر کړ.

وینا مې د ګډونوالو څخه د مننې په یار پیل کړه او وروسته مې د پروګرام په اړه تفصیلي وینا او خپل وړاندیزونه وړاندې کړه، د ځانګړو میلمنو مې هم مننه وکړه. له دریځه راښکته کېدو سره ګډونوالو په تود هر کلي ونازولوم، پر خپل ځای کیناستم، په ټول تالار مې نظر راتېر کړ. د تالار په یو کونج کې مېز ته ناستو نجونو په خپل منځ کې پسپسکې کولې، د دوي تر منځ یوې بلې ته یو څه وویل او د ویلو سره یې زما پر لور راوکتل، د بریښنا یوه تالنده مې له سترګو تېره شوه، زړه مې ورپېد لکه د سپرلي نرۍ سیلۍ چې د ګلانو پاڼې رپوي، سترګې مې و موښلې، د دروغو او رېښتیاو پرتله مې پیل کړه، په خپلو سترګو مې شک پیدا شو، نه پوهېدم چې رېښتیا هم زما سترګې د سهار نرګسي ګل ننداره کاوه او که د خیال په ټال کې ډوب د جذابو رنګونو راټول شوي انځور تابلو، خپل شاو خوا مې وکتل، تر څنګ ناست ملګري مې د دریځ تر شا وینا کوونکي خبرو ته ځیر و، ما بېرته خپل فکر د هغې پر لور ورکوږ کړ، فکر مې هغه نازک ګلاب ته شو چې ښکلا یې ټوله فضا رنګینه کړې وه، د هغې ښکلا ټول تالار د یو سرشاره سمندر څپو په څېر په مستۍ راوستی و.

د هغې راکتو مې نظر بېرته ځان ته واړوه، سترګې مې د هغې له سترګو سره مخامخ شوې، له حیا یې پر بدن لړزه راغله لکه په باغ کې چې ګل نوی په غوټۍ راغلی وي او لا هم د سپرېدو په حال کې ټول ښاخ له ځانه سره رپوي. زړه مې د ښاپیریو افسانو نړۍ ته ور ننوت، چېرته چې مې یواځې د سیف الملک او بدر جمالې خیالي داستان لوستی و، خو دا راته

Made with Xodo PDF Reader and Editor



حقیقت څرګند شو چې د خدای تعالی په کائناتو کې د ښکلا ډېرو څېرو د مصریانو په څېر د خلکو زړونه لیوني کړي.

ما بیا د هغې پر لور توند نظر راتېر کړ. د خپلو ملګرو سره یې خبرې کولې. سترګې یې پر میز پرتو پاڼو خښې وې، ښایي څه به یې لوستل او بیا به یې ملګرو ته د هغې په اړه معلومات ورکول. د خبرو غږ یې تر ما نه رارسید. خو یواځې شونډې یې داسې ښوزېدې لکه تالنده برېښنا چې په سپینو وریځو کې منحني خطونو په څېر بیا بیا پرقېږي. سر یې له پاڼو راپورته کړ. ویښتانو ته یې شړق ورکړ. لکه سپوږمۍ چې ناڅاپه له وریځو څان راښکاره کړي او د خپلې ښکلا جال پر کائناتو راخپور کړي. یو څه یې وویل او له وینا سره یې بیا د سترګو کمان زما پر لور را نیغ کړ، د ښکار لینده یې راکش کړه او د ښو غشي یې په کمان کې وپیېل، زړه مې په رپېدو شو. ځان مې د مرګ او ژوند په منځ کې احساساوه. ساه مې لنډه لنډه شوه. د زړه حرکت مې لاپسې ګړندی کېده. د هغې د کمان غشي مې بې واره په زړه ولېږده. تېرو باڼو یې په زړه کې د تالنده برېښنا څړیکې بلولې. د مخ رڼا یې زما پر سترګو د نور شغلې شیندلې، په تالار کې هم شور جوړ شو. فکر مې وکړ لکه چې ښکاري خپل غشي د هدف په منځ وویشت او خلکو د لاسونو پړقار ورسره بدرګه کړه. سر مې ټیټ واچوه د اوبو بوتل مې رااخیست، دوه غړپه مې تېر کړه. له دریځه د پوخ عمر سړی راښکته شو او ویناوال او ګډونوالو ترې مننه وکړه.

د نن ورځې غونډه پای ته ورسېده. زه پر خپل ځای ناست وم. ملګري مې یو یو خواته راتله. له ما یې مننه کوله. کوم یو به ځان هم راوپېژاند. ما هم ترې مننه کوله. که څه هم ملګرو مې خبرې اورېدولې. خو له ما سره داسې کوم مضمون نه و. چې خبرې مې پرې کړې وای. ټول فکر مې د تالار په کونج کې ناست میز ته د هغه ښکلا پر لور و. چې زما زړه یې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نارامه کړی و. هغه طبیعي ښکلا لکه په شنو ورشو کې قدرتي ګل چې د سهار په تازه هوا کې د انسان زړه رکاږي او پر ځان یې مئینوي، هغه نرګس چې د سهار وږمو یې پر شونډو لوند شبنم شیندلی او له مستی یې خوله مسکه پاتې وي.

د غونډې له پای او ملګرو سره د مرکې وروسته خپلې خونې ته لاړم، پر ټول ځان مې یو ډول ناراحتي او ستړیا راخپره وه، زړه مې نارامه و، د درد یوه څړیکه مې احساسوله، نه پوهېدم چې ولې داسې بیتابه یم، د هغې راباندې ډېر تاثیر کړی و، زه ډېر د مینې او مینه کولو هنر کې برلاسې نه وم خو بیا هم د هغې انځور به مې سترګو ته درېده. د هغې ناڅاپې راکتل، وړې بادامي سترګې او له نوره ډکه څېره چې زه یې ځان لوري ته راښکلم. ایا مینه د انسان په زړه کې درد پیدا کوي، ایا انسان په مینه کې کوم لوري ته راښکل کېږي، ولې د وارخطایي احساس کوم او ولې بیا ځلې تالار ته د تلو تلوسه لرم. داسې خو به نه وي چې زړه مې عقل ته د یو څه درس ورکولو مضمون پیل کړی وي، ایا دا مضمون خو به د مینې مضمون نه وي، چې تل یکې د زړه منل کېږي او عقل یې پر وړاندې مغلوب وي. دا او دې ته ورته پوښتنې مې په سر کې انګازې کولې.

د فکر همدې تال له ځان سره اخیستی وم، سهار را پاڅېدم ځان مې بیا تالار تلو ته چمتو کړ، هغه د غونډې له پیلېدو مخکې راغلې وه او د تالار په لومړي سر کې یوې ډډې ته ایښودل شوي میز تر څنګ چوکۍ کې ناسته وه. نن د غونډې دویمه ورځ وه، له راتلو سره سم مې د هغې پر میز نظر ولګېد، هغه لکه د دنګو غرونو هسک ښېتر لوړه غړې ناسته وه، ما هم لکه سیلانی د هغې تماشه کوله، هغه پر خپلو یادانښتونو بوخته وه، په ګوتو یې قلم نیولی و او یو څه یې لیکل. لا د تالار ګډونوال نه وو پوره شوي، په تالار کې مې ښکته پورته قدم وهل پیل کړه او د هغې شاو خوا ګرځېدم، ناڅاپه یې زما لوري ته پام شو، سلام یې واچاوه او سهار

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پخیر یې ووایه، د سلام سره یې خونخوار بانه راپورته کړل، زړه مې بیا درزهار پیل کړ لکه په کوم جرم کې چې ګیر شوی یم. په لنډه ساه مې د هغې سلام ته ځواب ووایه او بیرته د خپل ځای پر لور راتاو شوم، نیغ پر خپله چوکۍ کیناستم، د هغې ښکلا او موزون غړ انګازې مې په غوږونو کې کړنګېدې، څو ځله مې د هغې سلام ځانته مخاطب کړ او بیا بیا به مې ورته ځواب وایه. غونډه پیل شوې وه، ویناوالو د دریغ تر شا خپلې ویناوې کولې، خو زما فکر یواځې د هغې پر لوري ورکوډ و، کله چې به یې له چوکۍ سر راپورته کړ نو زما پر لور به راکږه شوه، ما هم خپل نظر د هغې پر لور خښ کړی و، څو ځله مو سره سترګې مخامخ کړې او بیا به له حیا تکه سره شوه، سر به یې ښکته کړ، د ښایست شغلې به یې د میز پر مخ داسې لګېدې لکه د لمر ځړیکه، چې د سبا پر سپیدو لګېږي، د هغې لېدو مې په زړه کې د رباب تارونو په څېر اهنګونه راپارول، د خیال نړۍ مې په خوځښت راغله، د غونډې له تالاره ډېر لرې لاړم، چېرته چې مې د هغې له حسن سره په شنو ورشوګانو کې د مینې پټ پټوني کول، هغې به د طبعیت په غېږ کې منډې وهلې او ما به له شا پسې د یا قربان زمزمې کولې، بېرته به ساه نیولې راستنه شوه، بې اختیاره به مې په غېږ راولوېده، زما پر اوږو به یې لاسونه واچول او بیا به یې پر شونډو نرۍ مسکا خپره کړه، زما پر مخ به یې لاس راتېر کړ او غلی به یې ویل زما زړګیه، زه دې له تا بېله نشم، ستا غېږ دې زما د عمر ځانګو وي، د ژوند تر ورستۍ ګړۍ به در سره یم. ما هم وعده وکړه، چې د ژوند هره شېبه کې به درسره یوځای یم، لکه مالیار به دې د ګلاب مخ پالنه کوم. ستا د مینې نړۍ به د خپل زړه په کور کې ابادوم. ستا په غېږ کې به د ژوند ساه اخلم.

په همدې فکر کې ډوب غرق وم، یو ملګري مې د خیال له نړۍ راوویستم، غونډه پای ته ورسېده، له ملګرو سره راولاړ شوم، هغه هم زموږ خواته راغله، زه اوتر شوم، یو ډول خاموشي مې پر بدن راخپره شوه،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د خبرو تاب مې ورک شو، ځان مې يواځې مخاطب کړ او د کلام پيل مې د هغې خوږو جملو ته پرېښود، چې خپل ځان يې را وپېژاند او ملګرو مې بيا د هغې کاري مسئوليتوونو په اړه معلومات راکول.

*********

حسنا د يوې منځنۍ کورنۍ ځخه وه، چې د يوې غونډۍ لاندې په نيمه پخه جونګړه کې يې د ژوند شپې ورځې تېرولې. د هغې عادتونه له نورو انجونو ځخه ډېر توپير کاوه، هغه يوه خاموش طبعيته نجلۍ وه، د حيا او ښکلا سره يې ښه قد او اندام هم لاره. په خاموشه څېره کې يې ښکلا ډېره بارزه وه. د ښکلا داسې آينه وه، چې هر بدرنګ پکې د خپل مخ څېره ښکلې لېده. دا يې د عادت کمال و، چې له هر چا سره يې د هغه په طبعيت چار چلند کاوه.

په لومړي ځل ليدو مې د هغې په څېره کې د مينې تنده ولېده، چې له مودو مودو د يو ارمان په تمه د ژوند شپې او روځې سبا کوي. هغې له هر چاسره مينه کوله. خو خدای ج پوهېږي. حقيقي مينه به يې چېرته او له چاسره وه. زما نظر به تل د هغې پر لور ورکوږ و. نه پوهېدم. دا به د هغې ښکلا کمال و، که زما د زړه کمزوري، خو زه هم د خپل زړه نه مجبور وم. په وار وار به مې د هغې د ښکلا ننداره کولو تلوسه په زړه کې راپېدا کېده.

هغه د ښکلا په نړۍ کې بې جوړې وه. وړې بادامي سترګې يې د شهزادګۍ په څېر وې. د ژوند په خړپړ او ساده طبيعي چاپېريال کې هغه مرغۍ وه، چې د خلقت ټوله ښکلا يې په ځان کې رانغاړلې وه. کله يې هم خپل مغرور حسن ته اجازه نه ورکوله، چې د ياغي نظر پر وړاندې د خپل ښکلا نندارتون پرانېزي، خو په روان کې يې ښکارېده. چې د مينې څپرکې يې لا هم په زړه کې بلېږي، خو له ناوړه چاپېرياله مجبوره وه. چې خپله ښکلا د حيا په پروني کې وساتي. زما زړه هم نه صبرېده او په هره لحظه

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کې یې د هغې د ښکلا بیا بیا کتل غوښتل. څو واره مې زړه ته تسلي ورکړه خو هیڅ ښه پایله یې نه لرله، زما عقل او زړه یې په جنګ کړي و، خو زړه به تل بریالی کېده او د هغې ښکلا ملکې څارنه به یې کوله. د هغې حرکت، قد، اندام ټول په ټوله پوره و، چې د قسمت خاوندان یې یواځې له خبرو فیض اخیسته.

ځان ته مې جرئت ورکړ خواته یې ورغلم پېژند ګلوي مې ورسره وکړه. د هغې د چارو په اړه مې ترې پوښتنه وکړه. هره شېبه به مې د سترګو لاندې د هغې ښکلا څارله. هغې هم کله کله د سترګو لاندې زه څارلم. د څېرک څارګر په څېر یې د نظر لاندې نیولی وم. له ورو سترګو یې اوږده بانه راپورته کړل او په خپل تت اواز یې زما سلام وکړ او بیا یې د خپلې دندې په اړه معلومات راسره شریک کړل.

ورځ مو په رسمي چارو تېره کړه، مازیګر وړانګې ښکته شوې وې، هڅه مې وکړه، چې د حسنا سبا ورځې په اړه د هغې پر پلان ځان پوه کړم. خو دا چې ما خپلې چارې هم د راکړل شوې دندې له مخې ځانګړې کړې وې، چې باید په لږ وخت کې له اږدو سفرونو سره خپل ماموریت تر سره کړم. نو د هغې په اړه مې کوم معلومات تر لاسه نه کړی شو، له ملګرو مې د هغې په اړه وپوښتل، په زړه کې مې هسې کرل او رېبل، که چېرته ماسره د سفر ملګرتیا وکړي په لاره به بلا ډېرې کېسې وکړو او د زړه ډک بوج به لږ سپک کړم، شپه یو څه تېره شوه، د ملګرو سره مو ښه بنډار وکړ، د خپل سفر او تر دې ځایه د رارسېدلو کیسې مو وکړې، د لارې په اوږدو وغږېدو او د راتلونکو سفرونو په اړه مو هم نظرونه سره شریک کړل. هر چا خپلې خاطرې شریکولې، خو زما په زړه او ذهن کې بس یوه بریښنایي شېبه وه، چې کله مې هم په ژوند کې نه وه حس کړې.

له ځانه سره مې فکر وکړ، چې ښایي روغتیایي حالت به مې ښه نه وي، یا به د اوږد سفر تاثیر وي، چې په ساعتونو لار مې طی

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کړې وه او يا به هم د چاپېريال بدلون را باندې تاثير کړی وي. خو دې تولو کيسو تر شا هيڅ کوم معقول دليل نه ليدل کيده. زه هم نه پوهيدلم څکه دا ډول حالت مې کله هم نه و حس کړی.

د شپې ناوخته د هوټل په خونه کې وم، د ملګري زنګ راغی او د سبا کارونو په اړه يې يو ځل بيا راځخه وپوښتل څو کاري محيط راته برابر کړي، ما هم خپل پلان ورسره شريک کړ، په خبرو خبرو کې مې د حسنا ستاينه وکړه، هغه په خندا شو او زياته يې کړه، لکه چې زړه يې درنه وړی، حسنا خو د زړونو غله ده، له هر چا يې وړي، هغه د ښکلا سره سره په کار کې هم ډېره زحمت ويستونکې ده او خپلې پوهې په کچه تل خپله خواري کوي، له دې سره يې دا هم وويل، چې په ساحوي کار کې له هيڅ کومې ساحې تللو څخه دريغ نه کوي.

دې خبرې اوريدو سره مې جرئت واخيست او غوښتنه مې ترې وکړه، چې کيدلی شي ماسره د يو څو کاري ساحو څخه ليدنه وکړي.

ملګري مې په ډېر ډاډ ځواب راکړ، موږ ټول ستاپه خدمت کې يو، هر چېرې مو کارته وغواړې دريغ نه کو. ما د نيکې هيلې په ويلو سره ترې مننه وکړه او ورزياته مې کړه، زما ماموريت له داسې ساحو څخه ليدنه ده، چې نسبتأ نژدې او امنيتي تهديد ونه لري څو خپل ماموريت سره سم خپلې چارې تر سره کړم.

ملګري مې زياته کړه، دلته ټولې ساحې خورا ښه امنيت لري، خلک يې وخت او ناوخته په لارو تګ راتګ کوي، خو .... د خو په ويلو يو څه تم شو، زه هم يو څه انديښمن شوم، فکر مې وکړ لکه چې ماموريت کې بريالی نه شوم، خو وروسته يې څرګنده کړه، چې زموږ نژدې ساحې هم په ساعتونو ساعتونو او ان تر ورځو د موټر مزل غواړي.

ما ورغبرګه کړه، چې د اوږدو لارو په اړه مې فکر نه دی خراب، زه خو لا د عمر په ښو او بدو نه ووم پوه، چې د اوږدو لارو مزلونه مې پيل

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کړي و ، ښه مې په یاد دي. کله چې په هېواد کې نا امنۍ زور واخیست، نو له کورنۍ سره یو ځای له ډېرو سختو لارو او په دنګو دنګو غرونو کې مې د څو شپو او ورځو مزلونه کړي وو.

پوښتنه مې ترې وکړه، ساحوي کارمندانو لپاره تاکلې لایحه څه ده، څوک باید چېرته او کومې ساحې ته لاړ شي ، څومره وخت کې باید بېرته راستون شي.

هغه زیاته کړه، د اړتیا سره سم کارمندان هرې ساحې ته ځي، په زړه کې یو څه خوښ شوم، چې اوس نو کار شونی دی، سمدستي مې ورته وویل، باید په سفر کې جندر مراعت شي، ماسره باید یوه ښځینه کارمنده ساحې ته ولېږئ او دا باید هغه څوک وي، چې زه ورسره په سفر کې یو څه هوسا یم.

ملګرې، چې یو څه لا د وړاندې زما پر طبعیت پوه و، د هماغې ښکلا چې زما روح یې ناارامه کړی و، وړاندېز وکړ، دا ښایي پر ما د یو ډول احسان له کبله و، چې له غوښتنې سره سم راته تر سرد کیده، ما هم په چټکۍ ځواب ورکړ. هغه بیا په خندا شو او دا ځل یې خبره یو څه بل لوري ته واړوله، ګنې زما د لېوالتیا سره سمه پرېکړه یې کړې، ما هم قبوله کړه.

شپه مې په فکرونو کې تېره کړه او لکه د یادښت کتابچه مې له ځان سره بلا ډېرې خبرې ثبت کړې. د ورځني کارونو انځور مې په ذهن کې اړولو، د هغې سترګو لاندې راکتل او خپلې اندېښنې ته به مې ډېره سودا وه، خدای پوهېږي، د شپې په کومه برخه کې به خوب وړی وم، خو دومره پوهېدم، چې له کله نه مې د هغې څېره لیدلې بیا د هغه ملګري شپېني زنګ پورې، چې سبا ورځې پلان په اړه یې را څخه پوښتله تولـه صحنه لـه ذهنه تیره کړه.

*********

Made with Xodo PDF Reader and Editor



حسنا که څه هم د یوې منځنۍ کورنۍ نیمه اطرافۍ د ښکلا ملکه وه، خو د ښځو په ولادي برخه کې یې منځنۍ طب پورې زده کړې وې. د ژوند پر ټولو اصولو برابره، د خوږو اخلاقو او نرمې لهجې، ښه قد او اندام څښتنه وه، خدای تعالی وربانديې د ښکلا ټول نعمتونه پیرزو کړي و، د هغې په خبرو کې یو ډول راښکون و. هر چا سره به یې چې خبرې پیل کړې، نو زړه به یې غوښتل، چې یو اځې غوږ ورته ونیسې، په هره خبره کې یې متقابل احترام و، هره خبره یې هغه خوږه مصرع وه، چې د هر مئین د زړه راګونه یې راسپړل.

له کړو وړو معلومیده، چې حسنا کې علمي سلوک ډېر تو پیر کړی، له خبرو سره یې د خولې، لاسونو او بدن حرکات د هغې خوږې ماشومې په څېر وه، ته وایې طوطي پر خبرو راغلی. هر څوک یې د خبرو لیوال و.

له خبرو یې ښکارېده، چې حسنا د مقابل لوري خبرو ته ډېر احترام لري او په نرمه لهجه یې هر چاته د یوې مهربانې ملګرې په څېر په خوږه ژبه ځواب وایه. له خبرو سره به یې وریځو ته هم حرکت ورکاوه. د سر په ښوځولو یې انسان د خبرو تل ته رساوه. د هغې کورنۍ پالنه له هغې سنګینۍ معلومېده. ډېر له سلیقې ډک چلند به یې کاوه. د ملګرو په منځ کې د سبا لمر په نوم یادېدله. هغه په ربښتیا هم د سبا لمر و، د پنځلسمې سپوږمۍ وه، هغه د خلقت په مخلوق کې نادره ښکلا وه، چې له ټولو انساني کراماتو څخه برخمنه وه، د غزالې په څېر غونډې سترګې یې د تیکې په څېر کلک زړونه هم ماتول. هغه د زړونو ښاپېرۍ وه، هر څوک یې د دیدن تږی و، زما یې هم په مرۍ کې اوبه وچې کړې وې، تل به مې په فکر کې ګرځېده، نه پوهېدم، څرنګه یې وستایم.

شپه تېره شوه، سهار مو سفر له معمول وخته دوه ساعته مخکې پیل کړ، موټروان هر کارمند د خپل کور له دروازې راواخیست، وروستی

Made with Xodo PDF Reader and Editor



زه وم، چې په يو هوټل کې مې ځانته يوه کوټه نيولې وه او له دوي سره ګډ مې خپل سفر د يوې ساحې پر لور پيل کړ.

زه لا د مخه راپاڅېدلی وم، د جامو بدلولو او سهار لمونځ کولو وروسته مې ځان د سفر لپاره چمتو کړ، د موټروان لخوا زنګ راغی، ما لږ نور وخت هم وغوښت، څو خپل هواس راټول او دندې لپاره مې ځان ښه چمتو کړم. له هوټله ووتلم. موټر ولاړ و، هر څو مې ځان سمبالولو په هماغه اندازه مې تلوسه لا پسې زياتېدله، لومړی نظر مې د موټر په منځنيو چوکيو واچود، په اندېښنه کې شوم، چې ايا حسنا به هم دومره د وخته له موږ سره د سفر کولو لپاره چمتو شوې وي که نه، پام مې شو، چې د سبا يو څو ستوري د موټر پر شيشه ځلېده، ښايي دوي هم د حسن د ښکلا تماشې ته راښکته شوي و، تکان مې وخوړ، چې دا خو د کائناتو ستوري دي، هغه ستوری، چې زما د زړه روښانيي ده لا هم په نظر نه راځي، پورته اسمان ته مې وکتل د سبا يو څو ستوري د افق په غاړه د وروستي کائناتو تماشه کوله، د حسنا په نه لېدو يو څه اندېښنې واخيستم، موټر ته پورته شوم، موږ سره له موټروان پرته بل کارمند هم و، د موټر منځنۍ چوکۍ کې يواځې کېناستم، د موټر په نورو چوکيو مې نظر واچوه، ټول تش و، لکه يو نيول شوی مجرم په موټر کې يواځې په يو چوکۍ ناست وم.

له ځان سره مې کرل او ربيل، ذهن ته مې هغه ملګری راغی، چې د نن ورځې پلان په اړه مو سره خبرې کړې وې، په زړه کې مې راتير شو، چې وظيفوي غفلت يې کړی، له پلان سره سم يې د جندر په نه مراعات کولو يې بايد مجاز کړم په همدې فکر کې موټر له عمومي لارې يو څه چپ شو، فکر مې وکړ، چې ښايي ټول پلان يې راته بدل کړی وي، د کومې ساحې لپاره، چې له ما ښامه پلان نيول شوی و لکه چې بدل شوی، غوښتل مې، چې يو ځل بايد ورسره اړيکه ونيسم، چې ولې يې زما پلانونه بدل کړي، زه په

Made with Xodo PDF Reader and Editor



همدې کې اخلم او ږدم، چې په مخکې چوکۍ کې ناست ملګري موټروان ته ورغږ کړ، همدلته يې ودروه! زه ورته زنګ وهم. د سبا ستورو هم له کائناتو کډه کړې وه، لمر لا څرېکه نه وه وهلې، د سحر مرغانو د خالق ستاينې پيل کړې وې، دانو د سحر هغه تازه ساګانې وې، چې له تورې شپې څخه يې په بشپړه توګه ځان را بېل کړی و. هر ساه کښ نوې او تازه ساه اخيستله، هوا هم ډېره تازه او د نسيم وږمو ځای ځای خوشبوی خپره کړې وه.

مخکېني چوکۍ کې ناست کارمند ګرځېنده تيليفون کې خبرې پيل کړې، د سلام کولو او سهار په خير ويلو سره يې زياته کړه، چې موږ ستاسو دروازې تر خوا ولاړ يو. زړه مې يو څه ډاډه شو. د فکر ځواک مې متوجه کړ، چې په تيليفون کې له چا سره خبرې کېږي، هسې نه، چې هغې انکار کړی وی او موږ يوه بله ښځينه کارمنده له ځان سره په سفر کې يو ځای کړې وي، زه يې له کور ساحې سره اشنا نه وم. له ځان سره مې وويل، که هغه وي خو ضرور ده. چې ملګري به مې ورته د شپې لخوا زنګ وهلی وي خو بايد زموږ تر مخه چمتو شوې وی، په تيليفون کې د مخکيني چوکۍ ناست کارمند ورزياته کړه، چې اوس ناوخته دی، بېرته راتګ به مو وخت ونيسي، زړه مې ناقراره و فکر مې وکړ، چې له تللو يې انکار کړی. تيليفون پرې شو.

*********

د دې ځای جغرافيه د نورو سيمو په پرتله يو څه بدله وه، تړوله سيمه دنګو وچو غرونو نيولې او تمدن يو څه شاته پاتې و. دا سيمه د تاريخ پخوانۍ پاڼو په څېر لا تر اوسه هماغسې په خپله خلقتي بڼه پاتې ده. په کلتوري ډول د خلکو تر منځ ګډ ژوند، د ښځينه و او نارينه و تر منځ ګډه ناسته پاسته يو عام عرف دی. ټول په ګډه کار کوي، په سواد او زده

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کړه کې ټول نارینه او ښځینه ګډې زده کړې کوي او همدارنګه په کر کیله کې هم د دوي تر منځ د ګډ کار عرف عام دی.

دا سیمه یو بېل ډول اقلیم هم لري، ګرمه او سړه هوا، د ځمکې ټیټوالی او لوړوالی، شنې ورشوګانې خو په عمومي توګه غرنۍ سیمه ده. د اوربښت لوړه اندازه په ژمي کې د ډېرې درنې واورې او منځنۍ تودوخې درجه یې د سانتي ګراد په درجه مثبت ۱۶ خو لوړه یې بیا ۳۲ او ټیټه یې ۴ درجو ته رسېږي.

د محرم میاشت د دوي مذهبي میاشت ده، چې خلک په دې میاشت کې معمولاً خیراتونه او نذرانې کوي او دې میاشتې ته ځانګړې ارزښت ورکوي. دوي نوروز یا د کال نوې ورځ په ډېرو ښو مراسمو نمانځي، یو بل ته ډالۍ او مبارکیانې لېږي، کوژده شوي هلکان او نجونې ځانګړې ډالۍ تیاروي او همدارنګه د ښځینه و او نارینه و تر منځ ګډ چکر او میلې جوړول د دوي د کلتور ځانګړې برخه ده.

د کر کیلې لپاره محدوده ځمکه لري ځکه چې د دې سیمې ډېری برخه د دنګو غرونو او غونډیو سترهلړۍ جوړوي. سبزي جات او غلې دانې نسبتاً کمې دي خو د وړو مالونو مالداري یې یو څه ښه ده. دلته ژوند د نورو سیمو په پرتله یو څه وروسته پاتې دی، خو په همدې وروسته پاتې حالت کې یې خلک زیارکښ او په خپلو چارو کې ډېر زحمت ویستونکي دي. دلته هوا یو څه سړه ده، د کال په اوږدو کې ډېری وخت د سختو یخنیو له امله د ژوند چارې ولاړې وي، د غرو لمنې له بادامو، غوزانو او همدارنګه منو او سنځلو په ونو پوښل شوي، خلک زراعتي حاصل له همدې وچو میو څخه تر لاسه کوي او همدا یې د ژوند وسیله ده.

د ژوندانه ټوله اسره یې همدا وچه میوه ده. مالداري هم کوي او په ځانګړي ډول د پسونو کار او مېږو څرول یې ښه روزګار دی. له مرکز سره په لېرې فاصله کې پرته دا سیمه په ژمي کې د ډېرو واورو له کبله د

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لارو بندښت سره مخ وي، نورو سیمو ته یکې راشه درشه کمه کېږي. له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته تګ هم پر ساعتونو او تر ورځو او شپو وخت نیسي.

*********

په موټر کې له یو څه انتظار وروسته حسنا له کوره راوتله، په رخسار یې د سهار تازه والي غوړېدلی و. د سهار په یخه هوا کې یې اننګي سره اوختي و. د زړکې په څېر یې مېده مېده مزل کاوه، تر موټره رانژدې شوه، د عطرو خوشبوی یې ټوله فضا ونیوله، د دروازې خلاصولو سره یې سلام واچوه. زه د موټر په منځنۍ چوکۍ، چې د موټر چلوونکي تر شا وه ناست وم. تر ما وروسته دوه نورې چوکۍ تشې وې. حسنا یو څه ټکنۍ شوه او زما د چوکۍ لاس ګیر یې ونیوه. څو په همدې سیټ له ما سره کېني. زه اوتر شوم او زر مې شاته وکتل هغه پوه شوه او خپل حرکت یې وروستۍ چوکۍ پر لور بدل کړ. سفر مو پیل کړ. پر ما د ژمي یخنۍ په څېر حالت راغی. ځان مې راټولاوه، زړه کې کې یو ترهېدلې انقلاب روان و. د ماتې او برې مې هیڅ معلومات نه کېدل. د لارې مسیر هم ډېر ګونګ و او دې سره مې د فکر تال هم کوم لورې ته نه چورلیده. د حسنا ښکلا راباندې ډېر تاثیر کړی و. هغه مې تر شا د هغه تازه نرګس په څېر ناسته وه، چې یواځې خوشبوي یې تر ما رارسیده. هغه د شاهي مانۍ د ګلبڼ په څېر وه. چې یواځې د تماشې او روحي سکون لپاره کینول شوی وي. د زړه هر حرکت مې د تالنده په څېر ګرزهار کاوه، د زړه او عقل ترمنځ مې د یو تنبل قاضي په څېر حالت ته ورته و. نه یې فیصله کولی شوه او نه تیښته. مخکې چوکۍ کې ناست ملګري راغږ کړ، چې سفر اوږد دی یو څه موسیقي به واورو. ما ورغبرګه کړه، چې ستونزه نشته، زه ستاسو موسیقي ډېره خوښوم او خوند ترې اخلم.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



دلته معمولاً کليوالـه موسيقي ډېره اورېدل کېږي، چې په کليوالي محفلونو او حجرو کې له دمبورې سره ويـل کېږي. دوی خپلـه موسيقي پـه ډېر خوند او ذوق اوري، د موسيقۍ زياته برخه يې په سيمه ايزه لهجـه ده، له پښوانيو راګونو سره يې هره مصره د زړه تـل تـه غـورځي او انسـان پـه يو لړۍ فکري تال کې زنګوي.

موسـيقۍ اورېـدلو لا پسـې واخيسـتم، او د زړه پـه غـوږ مـې اورېدله، ما يې په هره مصرعه کې د ښکلا فلسفه لټوله، يوې بلې نړۍ تـه يې بوتللم، اوس نو د ښکلا او فلسفې په منځ کې راګير وم، تـر شا مې د ښکلا ښاپيرۍ وه، چې زما زړه بې واره کړی و او تـر مخـه مـې د موسـيقۍ ساړه راګونو د زړه ستار ته نړۍ نړۍ ګوتې اچولې، د موسيقۍ دمبورې بـه مې زړه په اهتزازي حرکت راوست. د خيال په نړۍ کې به تر ډېره لېرې لاړم، بې بنګو به پر لار زنګېدم، يـوائې پـه خيـال کـې مـې حسـنا سـره د خپـل زړه خبرې کولې، زموږ دواړو حالت په همداسې مرموز ډول خاموشه. يوائې د سفر باندينۍ منظرې مو ننداره کولې، کله کله به مې تيليفون راواخيست، او له موټره باندې منظرو انځورونه به مې اخيسته. ځان ته مې جرئت ورکړ، له حسنا څخه مې ځو لـومړنۍ پوښـتنې وکـړې، غوښـتل مـې د خبـرو لـړۍ ورسره وغزوم، خو هغې په لنډو ځوابونو بېرتـه خبرې راغبرګولې ، خبرې يې لنډې لنډې خو ډېرې خوږې کولې. ما بـه هڅـه کولـه، چې د هغې ډېرې خبرې واورم، خو هغې به بيا يو څه په تيليفون ځان بوخت کړ، رنـګ يې لـه حيا سور اوختی و. هغه هم يو څه زړورتيا ته اړتيا لرله تـر څـو د خبـرو لـړۍ پيل کړي. ما ترې د ځايونو نومونو په اړه پوښتنې کولې او هغې به په خپ او رپانده موزون غږ ځواب راکاوه. په ټول موټر کې هغه تر ما شاته پـه يـو چوکۍ کې ځانته ناسته وه او زه د هغې تر مخه په بله چوکۍ کې. موټر پـه دنګو غرونو کې مزل کاوه. د موټروان تر څنګ په مخکې چوکۍ کې ناست

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ملګرې د خپلې دمبورېي موسيقۍ سره ځان بوخت کړی و، يواځې ما او حسنا د مقدمې د پيلولو په پار د فکر په ژورو کې غوپې وهلې.

د هغې زړه رانيکوونکې خبرې تل زما فکر ځانته اړاوه، هغه د خپل فکر په تال خاموشه ناسته وه، په خوله يې هيڅ نه ويل، ما به له قصدا خپل لاس د چوکۍ تر شا اړولو او ځان به مې د هغې پر لور متوجه کړ، سفر ډېر اوږد و تر دې، چې د سړک ترغاړې يو ساده او کليوالي هوټل ته ودرېدو، د سهار خواړه مو راوغوښتل، حسنا سمدستي ښځينه و خونې ته ننوتله، موږ هم د سړو په خونه کې د چای او خوړو فرمايش ورکړ، هوټل والا دوه هګيو کړاياني او چايو ترماسونه راوړل، ما ورزياته کړه، چې يو خوراک د ښځينه و خونې ته هم ورورې، هوټل والا په احترام وويل سمه ده. لږ ځنډ وروسته يې بله کړای هم راوړه، ترې ومې پوښتل، دا د چا لپاره، هوټل والا راته وويل، دا د ستاسې هغه ښځينه ملګرې ده، چې بله خونه کې ناسته ده، زه په فکر کې شوم، ښايي خواړه يې نه وي خوښ شوي، د سفر د لارې مشري هم ما کوله، سمدستي مې له هوټل والا څخه وپوښتل، بل څه نه لرې؟ هغه ځواب راکړ، چې دا يو اطرافي هوټل دی او دلته له هګيو پرته نور څه نه پيدا کېږي.

ما هم يو څو مړۍ وخوړې، نور مې بس کړه، لږ ساعت تم شو، څو ځانونه راحت کړو او بيا موټر ته پورته شو، حسنا هم پر خپلې چوکۍ کېناسته، له حرکت سره سم مې ترې وپوښتل، حسنا! خواړه مو په طبعيت نه و، بل څه به مو راخيستي و، هغې نه وويل او زياته يې کړه، چې زه اشتها نه لرم، له څو ورځو مې طبعيت او اشتها دواړه خراب شوي، ځان ښه نه احساسوم او سفر کول مې مجبوريت او ماموريت دی، د هغې په مخ کې د حيا سورخي غوپې ووهلې، د مجبوريت له ويلو سره يې حواس بدل شو، لکه ترهېدلې هوسۍ پر خپل ځای تش کالبوت ناسته وه، خاموشي پرې غلبه وکړه، په مړۍ کې يې لاړې وچې شوې، هڅه يې کوله نور څه ووايه

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خو د حیا یې سر ښکته واچو، داسې معلومېده، چې هغه هم د خپل زړه نه مجبوره وه خو په خوله یې څه نه شو ویلی. د ښو اوږده غشي یې ښکته کړل او پر خپل ګرځنده تیلیفون یې ځان بوخت کړ.

*********

سفر مو د دنګو غرونو په درو کې پیل کړ. د هرې درې په اړه به مې ترې پوښتل ، کله کله به مې مبالغه هم کوله، چې ستاسو سیمه له غرونو پرته نور څه نه لري او خپلې سیمې په اړه به مې معلومات ورکول، خو هغې به یو څه بې پروایي کوله، خبره یې نه راوږدوله یوازې به یې لنډ ځواب وایه، هیڅ نه پوهېدم، چې څنګه یې په خبرو راولم، ولې دومره اوتره او بې زړه ده، زه هم دومره ماهر نه وم، چې څنګه یې داړ تر لاسه کړم، تر څو ډېرې خبرې ورسره وکړم.

سفر همداسې روان و، کله خاموشي کله خبرې خو زه د فکر په سمندر کې ډوب غرق وم، د هغې د ښایست نقاشي مې کوله. د تشبهې توري مې لټول، خو هغه تر هرې تشبهې لا ښکلې وه، دوه رنګه وېښتان یې په تور او ژېړبخن رنګ جوړ کړي و، د سترګو پر کونجونو یې د کجلو سیلایي لکه ښامار راښکلې وه، د سترګو لکی یې انسان په زړه کې د خنجر په څېر خښېدل، پراخه سینه او چست بدن لکه د سپورت لوبغاړې تراو تازه وه.

وروسته له څلور پنځه ساعته سفر څخه هیڅ پوه نه شوم، چې څنګه تر منزله ورسېدو له موټره ښکته شو، د کار ساحې ته لاړو، زه تل په ساحه کې له هغې سره نژدې ګرځېدم، له کاري ساحې څخه به مو لېدنه کوله. تل به مې خپل ګرځنده تیلیفون هغې ته ورکاوه، ترڅو له ساحې څخه انځورونه واخلي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ما هم انځورنه اخیستل او هغه به مې په انځورونو کې راوسته، کله به چې په کاري ساحه کې ګرځېدلو زه به له حسنا سره په خبرو تر نورو ملګرو وروسته روان وم او لکه د مودو بلد به مې ورسره کرار کرار قدم واهه. کله به چې د هغې سره قدم په قدم تلم د زړه مارغه به مې ډېر لرې الوت کاوه، له خپل ماموریت څخه مې ښه خوند اخیسته. غرمه شوه موټر ته وختلو او د یو هوټل پر لور روان شو.

د خوړو لپاره هر چا خپل فرمایش ورکاوه، ما د حسنا فرمایش په تایید د هغې د خوښې خواړه راوغوښتل. ډوډۍ مو وخوړه او له یو څو ټاکلو دندو وروسته مو د بېرته تلو تکل وکړ. بیا هم سفر د راتلو په څېر یو څه ګونګ او خاموش و، خو دا ځل مې ځان ته جرئت ورکړ په، مخامخ مې ورسره خبرې پیل کړې او یوه نیمه ټوکه مې هم ورزیاته کړه، هغه هم یو څه زړوره شوه پر شونډو یې نرۍ مسکا خپره کړه، د زړه غوټه یې یو څه راوسپړل شوه، ښایي هغه هم د کومې ځانګړې موقع په تمه وه، چې خپلې کیسې پیل کړي، زما له خبرو سره یې علاقه ساعت په ساعت ډېرېدله د خپلې سیمې او ځایو په اړه یې خبرې پیل کړې، د هرې خبرې سره یې پر شونډو موسکا لا زیاتېدله. په لاره کې مازیګر شو ما د موټر تم کولو غږ وکړ، موټروان هم د یوې یخې چینې تر خوا موټر تم کړ، مخ لاس مې ومینځل او مسافرانه لمونځ مې ادا کړ.

بېرته موټر ته په راتښتو کې حسنا راته د لمونځ قبلولو دعا وکړه، هغې خبرې پیل کړې ویې ویل، چې مخ لاس وینځلو سره سړی تازه کېږي، ما هم تایید کړه، خو لږ وروسته یې ځان خاموش ونیوه. نه پوهېدم، چې ولې داسې حالت غوره کوي، په زړه کې ډېر ناقلاره وم، فکر مې وکړ، چې ښایي یو څه تېروتنه به مې کړې وي، فضا لا هماغسې خاموشه وه. خپل ګرځنده تیلیفون مې راواخېست، په رېږدلو ګوتو مې حسنا ته یو کوچنی د مینې پیغام په انګریزي ژبه ولېږه او ورسره مې سوالیه علامه کېښوده، په

Made with Xodo PDF Reader and Editor



زړه کې وارخطا هم وم، چې بد يې ونه ګڼي، ډېره لار مې په همدې فکر کې ووهله. چې د پيغام غبرګون به څه وي. نور نو نه پوهېدلم، چې څه به مو ويل خو په تلو تلو کې مو، د ماښام لمونځ هم په موټر کې ادا کړ او بيا تر خپل ځايه ورسېدو، د پيغام هيڅ ځواب رانغی، شپه خپره شوې وه زه هم هوټل کې خپلې خونې ته لاړم او موټروان حسنا او بل کارکوونکی تر کوره ورسول.

له دفتر سره مې اړيکه ونيوله، د خپل سفر راستنېدو مې ورته خبر ورکړ او د سبا ورځې لپاره مې بل سفر، چې د تېر په پرتله يو څه لرې و پلان کړ، يو څه معلومات مې د ورځنۍ دندې په اړه هم ورسره شريک کړل.

تيليفوني اړيکه مې پرې کړه، له ځانه سره مې فکرونه کول، د ورځنۍ سفر ټوله صحنه مې له سر تر پايه په ذهن کې راتيره کړه او بيا د حسنا د ښکلا په سمندر کې ډوب شوم. د فکرونو په ټال کې مې زانګل، کله به مې له ځان سره ويل، چې حسنا به له نورو ګډو سفرونو انکار وکړي ولې يې له ما سره په دومره اوږد سفر کې له خبرو ډډه کوله؟ آيا زما په خبرو کې داسې کومه کنايه وه، چې د هغې تعبير او تفسير هغې ته څرګنده کړې وي، چې زه ورسره مينه لرم، آيا د هغې خپله علاقه نه وه، چې له ما سره د سفر په اوږدو کې کيسې وکړي، د شپې لومړۍ برخه مې په همدې فکرونو تيره کړه، کله به ناهيلی شوم او کله به مې ځان ته ډاډ ورکاوه، د هيلو او ناهيليو تر منځ وم، چې تيليفون مې وکړنګېدو، په فکر کې شوم، چې دا ناوخته شپه به څوک وي، کومه پېښه خو به نه وي شوې، ايا حسنا خو به زما د پيغام په ليدلو کوم عکس العمل نه وي ښکاره کړی، ګورم، چې د حسنا لخوا زنګ راغی، تيليفون مې په بيړه راواخيست له غوږ سره مې پيوست کړ، حسنا د سفر د ستړيا په اړه وپوښتل، ما هم د هغې ستړيا او روغتيا پوښتنه وکړه، له ما يې وپوښتل، چې تاسو به په سفر کې ستړي شوی يې، موږ او تاسو هم يو څه نا اشنا و، بخښنه غواړم ډېرې خبرې مو

Made with Xodo PDF Reader and Editor



سره ونه شوی کړی، ما ورته زیاته کړه، چې له تاسو سره مې سفر ډېر له خوښيو ډک و ، هغې د تایید په موخه وویل، چې ته رښتیا وایې، ورته مې ویل حسنا زه ډېر خوشحاله وم، چې له تاسو سره مې سفر درلود او بیا مې ورته د هغه کوچني پیغام لېږلو په اړه وویل، چې موټر کې مې ورته استولی و ، هغې وویل، چې تاسو ماته هیڅ کوم پیغام نه دی استولی، بیا مې ورته د پیغام مطلب په خوله ووایه هغه یو ساعت غلې وه، د تیلیفون په غوږي کې مې د هغې اسویلي حس کړه، پوره شېبه دواړو یواځې تیلیفون غوږ ته نیولی و ، نه هغې خبرې کولې او نه هم ما کوم جرئت درلود . چې نور څه ووایم په همدې خاموشۍ کې يې راته وویل چې ته څه فکر کوې، چې زه په دې عقیده نه لرم، چې مینه دې وکړم، لومړی خو ته زما مجرم يې چې د غونډې په تالار کې دې د دریغ تر شا خبرو زما زړه رانښکه او بیا دې زه د خپل سفر لپاره غوره کړم، زما زړه خو لا د هماغه لومړۍ ورځې ډېر ناقلاره دی او فکر کوم چې زه به ستا د مینې قابله اوسم، زما د شپې فکرونه او د خوړو اشتها خرابېدل خو ستا د لاسه دي او دې سره یو ځل بیا خاموشه شوه.

زما پر مخ هم د خوښۍ اوښکې راماتې وې، زړه مې له ډېرو خوشحالیو ټوپونه وهل، ما په لومړي ځل پر یو چا زړه بایللی و ، دا مې د مینې لومړی اظهار و او په خپل هدف کې بریالی شوم. د زړه مارغه مې په هوا شو ، د هسکو غرونو او لوړې فضا شنو منظروته الوتم، زړه مې غوښتل، چې په نیمه شپه له خونې وځم او ټول کائناتو کې د خپلې خوښۍ چیغې ووهم، په دنګو غرونو کې د مینې انګازې خپرې کړم او ټول ویده خلقت راویښ کړم تر څو زما له خوښۍ سره خپلې نڅا پیل کړي، پوره شېبه مې په زړه کې خوشحالیو انګازې کولې، هغې تیلیفوني اړیکه پرې کړې وه، پوره شېبه مې ځان ارام کړ. د خوښۍ ساه مې واخیسته، بېرته مې ورته زنګ ووهلو د سلام کولو وروسته مې ورته کړه، چې د سبا سفر په اړه مې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ورته وويل، هغې هم راسره ومنله او زياته يې کړه چې له تاسره د خبرو کولو جرئت مې يو څه بايللی، نه شم کولی د زړه خبرې مې په خوله راوباسم. خو په سبا سفر کې به ډېرې کيسې وکړو اوس يې په تيليفون نه شم کولی.

ما موضوع واړوله او د سبا سفر په اړه مې ېېرته خبره راتاو کړه، هغې زياته کړه چې زما د بخت ستوری راختلی. چې له تاسره يو ځای سفر کوم، خوشحاله شوم خو بيا يې وويل چې سبا سفر کې يو بله ښځينه کارکوونکې هم لرو، زه يو څه تونده شوم او ورزياته مې کړه، چې دا نه شي کېدای، چې زموږ په منځ کې بل څوک هم را ننوځي. ما ته دا پلان د منلو وړ نه دی، زه په خپل پلان کې خپلواک ووم، ځکه ما غوښتل يو اځې له حسنا سره خپل سفرونه پلان کړم، هغې ته مې ډاډ ورکړ، چې داسې به نه کېږي، زه اوس له دفتر سره اړيکه نيسم، د هغې اړيکه مې پرې کړه ، د دفتر له ملګري سره مې اړيکه ونيوه، چې د سبا سفر لپاره له موږ سره څوک او ولې يو ځای دي. هغه ځواب راکړ، چې يو تن ښځينه کارکوونکې. د هماغه سيمې ده، چې تاسو ورته سفر لرئ له تاسو سره بايد لاړه شي. هغه دلته په يو رسمي سفر راغوښتل شوې، خو د ترانسپورت محدوديت له امله له تاسو سره يو ځای خپلې سيمې ته ځي، تاسو يې بايد قبوله کړئ، زه بيا يو څه تونده شوم او زياته مې کړه، چې دا زما رسمي سفر دی، کوم د ټکسي موټر نه دی، چې هر څوک وغواړي له موږ سره يو ځای لاړ شي، زه بخښنه غواړم، ملګري مې خبره درک کړه او ما سره يې د هو په ويلو خدای په اماني وکړه، يو څه شېبې وروسته د دفتر بل کارمند زنګ راغی، د سلام په ويلو سره عذر وکړ، چې هغه کارمنده سبا ته ستاسو د سفر ملګرې شي، له تاسو سره به يو ځای لاړه شي ځکه بله چاره نه لرو، ما، چې نه غوښتل هغه له خانه سره په سفر کې ولرم ورزياته مې کړه، چې بل موټر دې کرايه کړي او يا زه بايد بل موټر ولرم، له دوی سره زه خپل سفر په راحت نه شم کولی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هغه راته وویل، چې یو څه چاره به وکړو که یې امکان لاره سفر به مو جدا وي.

یو څه شیبه وروسته حسنا زنګ راغی ویې پوښتل، د سبا په اړه خبره کړه ده، ما ورزیاته کړه هو ما له دفتر سره خبرې وکړې هغه بله کارمنده له موږ سره یوځای ده. بله چاره نه لرو. بیا مې ورزیاته کړه، چې بغیر له تا بل هیڅا سره سفر نه شم کولی او له تاسره مې روح د ارامتیا احساس کوي، هغه په خندا شوه او زیاته یې کړه، چې سبا به ښه سفر ولرو د اوس لپاره دې په خدای سپارم.

د شپې ډېره برخه مې د هغې د ښکلا په خیالي نړۍ کې تېره کړه، هغې د حسن لپاره مې په زړه او ذهن کې توري لټول، د هغې د ښکلا لپاره مې هیڅ تعریف پیدا نه کړی شو، نه پوهېدم تر کومه به د هغې په فکر کې ډوب وم، د تیلیفون په کړنګار را ویښ شوم ګورم، چې د موټروان زنګ راغی او د موټر د راتلو خبر یې راکړ، راپاڅېدم او د تګ لپاره مې چمتوالی ونیوه.

سهار سپېدې لا نه وې چاودلې، موټر د هوټل مخې ته ولاړ و، موټر چلوونکي دروازه خلاصه کړه او ماته یې موټر ته د پورته کېدو احترام وکړ، په ټول موټر مې نظر تېر کړ ګورم، چې حسنا د هغې بلې کارمندې تر خوا په وروستۍ چوکۍ کې ناسته ده، ډېر خفه شوم، په ډېر ماته زړه او مایوسۍ مې سفر پیل کړ، دا سفر شاوخوا شپږ ساعته له یو لوري په غرونو کې مزل و، له ځانه سره مې وویل، چې دا به ډېره سخته وي، چې حسنا سره د مینې خبرې ونه کړم، کرۍ لار مې په همدې فکر تېره کړه، چې څنګه باید هغه پوه کړم، چې څومره مینه ورسره لرم.

فکرمې ډېر خراب و، له یو خوا سهار وختي سفر، د شپې بېخوبي، د تېرې ورځې ستړیا خو دا هر څه د حسنا ښایست محوه کړي و، زموږ په منځ کې د یو کس زیاتېدل راته سفر ډېر ستړی کوونکی کړ،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



همداسې چپ پر خپل ځای ناست وم، د فکر په تال کې مې زانګل، چې تيليفون وکړنګيد. تيليفون مې واخېست ومې کاته، چې کوم پيغام راغلی، ګورم، چې د حسنا شمېره ده کومه، چې ما له مخکې ځان سره ثبت کړې وه، پيغام مې په بيړه خلاص کړ، پکې ليکلي وو: «ريس صېب ښه يې» دې سره مې د زړه غوټې يو څه راوسپړل شوې، پوه شوم چې حسنا هم زما د خبرو لېوالـه ده او دا د هغـې لـومړنی پيغـام و، زمـا پـر خوشحالۍ يو اځې خدای پوهېده، په لومړي ځل مې يو پيغام کې د مينې فلسفې مطالعه پيل کړه، زر مې ځواب کړ، چې «پوره نه يم ښه» د ځواب په لېږلو سر د پيغامونو لړۍ پيل شوه، چې موږ بايد اوس د مستقيم خبرو، چې په لومړي سفر کې مو ونه شوی کولی اوس يې د پيغام له لارې په يو موټر کې يو بل ته کوو، زما د پيغام سره د هغې بل پيغام راغی، اوس نو د تيليفون هر ټنګ راته د زړه مرحم و، دويم پيغام کې يې اسويلی کښلی و او يو اځې همدومره يې ليکلي و چې «اوففففف» ما هم د دې لپاره چې ډاډه شم، چې ايا دا زموږ د زړونو غږ دی او که سفر ستړيا؟، بېرته مې ځواب ورکړ، چې «لار ډېره خرابه ده او دا بل کس هم بايد نه وی، په زړه مې ډېرې خبرې دي خو نه ليکل کېږي» په پيغام کې مې ورته ځرګنده کړه، چې که پوښتنه يو اځې د سفر په اړه وي نو زه لارې اندېښمن کړی نه يم او که چېرته زما او ستا هغو خبرو، چې په زړه کې يې يو بل ته لرو نو بايد دويم کس مو تر منځ نه وی راغلی.

هغې بل پيغام راواستاوه او ليکلي و «دا خو هغه فلانې همداسې پلان کړی و، ارمان، چې موږ سره په موټر کې نه وای»، زه يو څه ډاډمن شوم، چې خبرې زما او د هغې د زړونو په اړيکه باندې دي، هغه فکر، چې زه يې لرم هغه يې هم لري. بنايي زه يې درک کړی وم، يا يې خپله لېوالتيا ډېره وه. ما پرته له دې چې د وروستي پيغام په اړه ځواب ورکړم د لارو تنداره مې پيل کړه، يو خواته دنګ غرونه، بل لورې ته په درو کې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شنې ونې، د درو په منځ کې پاکې او رڼې اوبه بهېدلې، دې تولو د مینې داستانونه ویل او ما به د زړه په غوږو اورېدل. دلته د خلکو کار روزګار د بادامو او غوزانو له ونو سره و، خورا زياتې ونې په نظر راتلې، بل لوري ته خړپړ سرک او تنګې لارې د سړي ويره لا زياتوله، ما په لومړي ځل د داسې لارو سفر څخه خوند اخيسته.

یو څه لاره نااشنا وه او څه د حسنا ښکلا تر تاثر لاندې راوستی وم، د طبعیت ښکلا سره مې د هغې حسن پرتله کاوه. د هغې ښکلا د خیال په ژورو کې اخیستی وم، ګورم، چې بیا پیغام راغی، په بیړه مې تیلیفون راواخیست، پیغام له هماغې شمېرې څخه وو، لیکلي يې وو «هيڅ ښه نه معلومېږي، خير دی وزغمه لږه لار پاتې ده او له هغې لوري له موږ سره نه راځي» د پیغام پر لوستلو بوخت ووم، بیا د خیال نړۍ ته ورننوتلم، د هغې ښکلا مې انځوروله، زړه مې صبر ونه کړ او ورته مې ولیکل، چې «ته ډېره خوږه يې، زما په زړه دې چاپه اچولې، د خدای لپاره لږ مې د زړه بوج سپک کړه، د خپلې مينې له فيضه مې برخمن کړه» پيغام مې واستوو، د بېرته ځواب په تمه وم، چې هغې هم سمدستي راته وليکل «قربان دې شمه زما خان يې، زما په زړه کې ځانګړی ځای لرې، د مينې کور مې يې، پرته له تا به مې ژوند نيمګړی وي»، له دې سره زه نه پوهېږم، چې څرنګه به مې په څېره کې بدلون راغلی و، خو په زړه کې ډېر خوشحاله وم. ما اورېدلي و، چې خلک کله هم د ځان قربانولو کلمه کاروی له ډېرې مينې يې وايي خو بيا هم ما په ځان کې داسې څه نه ليدل، چې هغه دې له ما ځان قربان کړي بس په زړه کې مې ورسره ډېره مينه لرله. لا خو مو سره داسې خبرې هم نه وې شوې چې د خپلې مينې ورته پوره څرګندونه وکړم او ورته ووايم چې څومره مينه ورسره لرم. نه هم کوم بل داسې لامل و چې زموږ د خبرو غوټه يې پرانستې وی او د زړونو حال مو يوبل ته ویلی وی. خو هغه تر ما ډېره

Made with Xodo PDF Reader and Editor



نا ارامه معلومېده. وروسته يې بل پيغام را واستوه ليکلي يې و، ((که لاره کې ښکته شوې بيا زما تر مخه چوکۍ کې کښېنه)).

زه د موټر په يو درې کسيزه چوکۍ کې هغه خواته ناست وم، چې تر شا مې بله کارمنده وه، د هغې سره حسنا د چوکۍ بل لوري ته وه. زه نه پوهېدلم، چې حسنا ولې ماته د هغې لوري ته د کېناستلو پيغام لېږلی، خو دومره پوهېدم، چې حسنا له ما شاته چوکۍ کې کيڼ لوري ته د شيشې تر خوا ناسته وه او زه د هغې تر مخه چوکۍ کې ښي لوري ته ناست وم. پيغام مې څو وارې تکراري ولوست. ناڅاپه مې د هغې لورې ته مخ ور واړوه، له کتو سره بيا د خيال په نړۍ ورننوتلو. د هغې نوراني مخ او دوه رنګي وېښتان. په کجلو جوړې سترګې هيڅ مې د ليدلو توان نه درلود. يو شېبه مو يو بل ته کتل حسنا د سترګو په حرکت راته د ځای بدولو اشاره وکړه د هغې د سترګو دا حرکت مې هيڅ نه هېرېږي، چې په کوم مهارت سره به يې د حرکت عادت اخيستی و. يو څه زړه نا زړه وم. يو وار مې د خپل لوري شيشه خلاصه کړه، تر څو له تازه هوا سره ځان مشغول کړم، خو لاره خامه وه ګردونه و. بېرته مې بنده کړه. بل وار مې د هغې لوري شيشه خلاصه کړه، چې حسنا يې تر شا ناسته وه. داسې مې وانګېرله، چې زما لورې شيشه کې ګردونه او خاورې را داخلېږي نو ځکه مې بل لوري ته حرکت وکړ، د موټر چوکۍ هماغه لوري ته مې ځان کش کړ، چې تر شا يې حسنا وه. فکر مې بدل کړ. ځان مې له هغه کارمند سره چې په مخکې چوکۍ کې له موټروان سره ناست و په خبرو مشغول کړ.

د هغه سره مې خبرې پيل کړې. د ځايونو په هلکه مې ترې پوښتنې کولې او د پاتې سفر او لارې په اړه مو سره خبرې کولې، په خبرو کې مې يو چا د شا لوري پر اوږه لاس راکېښود. يو نرم او تود حرارت مې حس کړ، فکر مې وکړ چې ښايېريو مې د سفر ستړيا باسي. کله مې هم دا فکر نه و کړی، چې حسنا به دومره جرئت کړی وي، چې په موټر کې د نورو

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پر وړاندې زما پر اوږه لاس واچوي، خو زه ستړی هم وم او د هغې د لاس وړی هم، ګورم. چې یو ځوک مې د ځان پر لور راکاږي، ما د سترپیا په درلودلو له دې خوند اخیسته، یوې داسې ملکې، چې مایې لومړي ځل په لیدلو تاب رانه وړی شو او تصور مې هم نه کاوه، چې څنګه به په دې ازموینه کې خپله بریا تر لاسه کوم خو دا هر څه مې د زړه په خوښه کېدل، تقدیر مې له زړه سره ملتیا کوله، د هغې لاس مې پر بدن حس کړ. د هغې د مینې تمه مې لا پسې زیاته شوه، ما فکر کاوه، چې یواځې به د مینې په خبرو خپل سفر لنډو و . خو اوس مې فکر داسې و ، چې د معشوقې په کور کې ناست د خیال په سفر غرو او رغو کې ګرځم.

د هغې لاسونو هم د هغې خبرې په ډول ډېر رانښکون درلود، زه یې ځانته رانښکلم، د هغې په لاسو لمس کول ورو ورو زیاتېده، زما ځټ یې وموښه، ما هم ځان ته جرئت ورکړ د هغې لاس مې په خپل لاس کې ونیوه، په ګوتو مې ورته یو څه زور ورکړ، په اخ اخ ویلو سره یې ټول حواس راوپارېدل، هغې هم له دې پوره خوند اخیست، زموږ فکري نړی له کائناتو کډه کړې وه او یو داسې شینې دښتې پر لور روان و چېر ته چې یواځې ما او حسنا د خپلې مینې نغمې زمزمه کولې او د مینې تنده مو د یو بل په غېږ کې نیولو ماتوله، د هغو باغونو سیل مو کاوه، چې د نړی ټول مرغان زموږ د مینې ټپو ته نڅېدې او زموږ له مینې سره یې ښکلې زمزې کولې، زموږ د خیال دا لړی هغه وخت پرې شوه، چې حسنا په یو ټکان سره ناڅاپه شاته شوه، هغه ډېره خبر که وه، که څه هم لاس یې زما تر بدن تاو و خو نظر یې تر څنګ ناستې ملګرې ته و . له دې ټکان سره سم ملګرې یې یو څه وویل او دې ځواب ورکړ.

ما هم ځان له خاموشې حالته راوویست، د حسنا ملګرې مې مخاطبه کړه او د لارې په اوږدو مې ورسره خبرې پیل کړې، په خبرو کې مې نظر حسنا ته و ، هغې په سترګو کې ډاډ راکاوه، چې باید فکر مې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خراب نه کړم. اوس پوره ډاډه وم، چې حسنا له ماسره ده، که مستقیم د مینې خبرې نه شو کولی خو په اشارو او د لاس په لمس کولو یو بل سره د مینې تنده ماتوو، د یوبل زړه کې ځای لرو، د هغې لاسونه مې څو وارې لمس کړل، سهار پوره راختلی و، یو هوټل ته ودرېدو، د سهار چایو فرمایش مو ورکړ، حسنا ځان له بل کارمند سره، چې د موټروان تر څنګ به کېناسته په خبرو مشغول کړ او بله ښځینه کارمنده یې د چای فرمایش لپاره واستوله. هوټل والا دسترخوان راوړ، حسنا که څه هم د بل کارمند تر څنګ دستر خوان ته کېناسته خو ماته یې ځان مخامخ کړ. ما ورغږ کړ، چې زه او ته به یو ځای خواړه وخورو، د سهار خوړو لپاره یې پخې هګې راوړې، په خوړو مو پیل وکړ، دا ځل نو حسنا هم ښه اشتها درلوده او ما هم د خوړو ښه خوند اخیسته، د سفر ستړیا مو ولوږه ډېره کړې وه او خواړه هم ډېر خوندور و، موږ یې توصیف وکړ، له شوخۍ مو پر یو بل ټوکې هم کولې، ما زیاته کړه، چې حسنا په کورکې له ماښامه نهاره وه، خواړه یې ډېر وخوړل، هغې په کړسنده خندا وویل ، چې داسې نه ده، غذا ډېره خوندوره وه او زما اشتها هم راغلې څکه مې ډېره وخوړه.

حسنا کاغذي دستمال له ډبې راکش کړ او له نریو ګوتو یې راتاو کړ، د چایو ګلاس څخه یې تونده تونده غړپوونه وکړل، ماته یې مخ راواړه او ویې ویل، چې خدای دې وکړي، چې ستړیا مو دمه شوې وي، ما هم په خواب کې د هغې راحت ویلو وویل، په منتې سره یې وویل، چې حرکت کوو.

ټول موټر ته پورته شو، لا مو ډېر مزل تر مخه پاتې و، موټر د غرونو په کړلېچو کې د باز په څېر تاوکېدونه تاوه ول. موږ په لاره خبرې اترې کولې، دا وار له حرکت سره د حسنا تر مخه د هغې لوري ته پر چوکۍ کېناستم. هغې بیا لاس اچول او لمس کول پیل کړل. کله کله به یې زما په سرکې ګوتې وهلې زما وېښتان به یې را ګډوډ کړل، د هغې هر وار لمس

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ماته د خوشحالۍ ساه راکوله، تازه کېدم، سفر څخه مې خوند اخيسته، زما لپاره دا سفر د دندې نه بلکې د مينې يو کاروان و، کله به چې د ملګرو پام موږ ته کېده، د خبرو لوری به مو بدلاوه، خو په سترګو او اشارو مو د يو بل احساس معلوماوه، هغه تر ما زياته د خبرو او يو ځای کېدو لېواله وه، که څه هم زه له کوره لرې يو مسافر وم خو هيڅ مې ځان يواځې نه احساساوه، له حسنا سره مې سفر په مينې بدل شوی و، هغه ليونۍ مينه، چې زما زړه او روان يې ناقلاره کړی و، اوس مو د طبعيت په لمنو د مينې چکر له يو بل سره پيل کړی و.

*********

زما او د هغې حالت ورو ورو بدلېده، د نن ورځې سفر مې تر لومړۍ ورځې ډېر توپير درلود، په لومړي سفر کې مې يواځې د خبرو کولو هيله درلوده، خو دا سفر نه يواځې د مينې په خبرو بلکې د يو بل سره د مينې لاس غځولو او د زړه احساساتو په بدلولو بدل شوی و، د هغې نرم او پاسته لاسونه د نازولې شهزادګۍ په څېر و.

د سفر اوږد منزل مو د مينې په احساساتو را لنډ کړی و، تر منزله ورسېدو، له خپلې کارې ساحې څخه مو لېدنه پيل کړه، د کار انځورونه مو واخېستل، هغه به د کاري ټيم څخه يو څه ګوښه کېده، ماته به نږدې کېدله، د هر وخت په تېرېدو سره يې حرکتونه بدلېدل، د يو رنځور په څېر يې تل زما لاس نيوي ته اړتيا درلوده او د زړه رنځ يې په وخت په وخت زياتېده، نو ځکه ورته زه د يو ښه طبيب په څېر وم، کله به مو چې له کاري ساحې څخه د ثبوت لپاره انځورونه اخيستل، تل به يې زه په انځورونو کې راوستلم او بيا به يې د اثبات لپاره راته ښودل.

په ساحه کې مو خپل ماموريت پای ته ورساوه، يو څه مو ځان دمه کړ او د ببرته تلو لپاره مو تکل وکړ، له ملګرو سره مو مخه ښه وکړه، د

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هغوی د کارونو ستاینه مې وکړه. حسنا هم له خپل ماموریته ډېره خوشحاله وه، له یو څه ځنډ وروسته مو حرکت پیل کړ، دا ځل زموږ په منځ کې کوم رقیب نه و، هغه بله کارمنده له موږ څخه پاتې شوه، زه، حسنا او مخکې چوکۍ کې ناست ملګری و، موږ هر یو په بېل بېل چوکیو ناست و، دا ځل یو څه فضا تشه وه، موږ خپلې خبرې بې له قید او شرطه پیل کړې، له رسمي خبرو شخصي ته راغلو. لاس مې د چوکۍ تر شا راتاو کړ، هغې زما لاس په خپل لاس کې ونیوه، د زړه په زور یې زور کړ، ما یې هم لاس ور زور کړ. یو بل ته مو د مینې کلک تړون د لاسونو په زور کولو ونښود، ما په سفر کې دا حالات یوه معجزه ګڼله، زه له سفر سره نا اشنا نه وم، د هېواد ډېرو سیمو ته مې سفرونه کړي، خو دا سفر راته یوه خاطره او د مینې داستان و.

د هغې د لاس حرارت ډېر زیات و، مینې یې د زړه د جوش نقطه لوړه کړې وه، هیڅ یې زما لاس نه پرېښود، لاس نیولو سره یې یو ډول اسویلي له خولې وتل، ښايي، چې زه یې په زیارتونو موندلی یم، خو مستقیم یې په خوله نه شو ویلی یواځې ساړه ساړه اسویلي وړیاتې و، او د هیلو کاروان یې لا هم نه و ستړی شوی.

له ډېره جوشه یې زما ګوته په خوله کې ونیوه او د یو تې خوري ماشوم په څېر یې رودله، ساه یې ګډه وډه وه، حالت یې یو ستړي مزدور ته ورته و، پر تندي یې نرۍ خوله راماته شوه، ستړیا یې هیڅ نه دمه کېدله، د خولې حرارت نه معلومېده، چې حسنا په رګونو کې د وینې جوش لوړ شوی او د بدن حرارت یې لوړې درجې ته رسېدلی، هغې اوس یوه با تجربه طبیب ته اړتیا لرله تر څو د هغې نبض درجه معلومه کړي.

حالت یې ورو ورو نور هم خرابېده تردې، چې نور یې هیڅ تاب نه درلود، زما لاس یې د خپلې سینې پر لور راکش کړ، خپل د زړه ضربان یې را څرګند کړ، زه ډېر وارخطا شوم، په ځان نه پوهېدلم، یو ډول ویره مې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



احساس کړه. د لومړي ځل لپاره مې د يوې ځوانې اجنبي جينۍ پر سينه لاس کېښود. زما احساسات يې هم را وپارول. د بدن ټول رګونه مې په خوټ کېدو شو، غوښتل مې، چې ترملا يې لاس راتاو کړم، په خپله غېږه کې يې ونيسم. هغه هم ډېره بې تابه وه. فکرونه مو له مادي نړۍ لېرې تللي و. زما ساه هم بې واره وه. د يو ښکار شوې مرغۍ په څېر مې اوتر اوتر يو خوا او بل خوا وکتل. نه پوهېدلم، چې ولې مې زړه غواړي، چې پام مې بل لوري ته واړوم. د موټر مخکې چوکۍ کې ناست ملګري او ډرايور باندې مې بې اختياره غږ کړ.

پوه نه شوم، چې د خپل پام بدلولو لپاره به مې پوښتنه په څه ډول وه، خو ما غوښتل وضعيت معلوم کړم، چې زموږ پر لوري خو د چا پام نشته. ملګري مې ځواب راکړ، دا سيمه ډېره ښکلې ده، يو څه درې يې شنې دي او په بادامو کې ځانګړې نوم لري.

په زړه کې ډاډه شوم، چې هر څوک په خپل فکر کې ډوب دی، خو بې اختياره وم، د حسنا پر لور مې وروکتل هغې بيا ساړه ساړه اسويلي کول، ډېره بې سده وه، وارخطا معلومېده، ما چې يو څه ځان ډاډمن کړ بېرته مې د هغه لاس ونيوه هغې د يو وړې باز په څېر را ټوپ کړ زما لاس يې بيا ونيوه، زما ګوتې يې راته تاو کړې، خپل ورغوی يې زما په ورغوی کې کېښود. زما لاس يې بيا خپلې سينې پورې ونيوه هيڅ خبرې يې نه کولې بس يواځې اسويلي يې له خولې وتل، زه هم د هغې د مينې ډېر لېوال وم، په بېره مې د هغې په سينه لاس کېښود. زړه يې لا هماغسې په لړزېده. زما لاس يې په چپه واړوه. يو مهربان مور په څېر يې ښکل کړ. په ډېره نارامه غږ يې وويل. چې نور مې صبر کاسه ډکه ده. نشم کولې، چې وزغمم. زړه مې راډک شوې له سترګو يې اوښکې روانې شوې او بې اختياره يې زياته کړه، چې زه تا ته ډېره اړتيا لرم. غواړم د مينې ژوند مې درسره تجربه کړم. د ژوند تېر داستان مې له زړه وباسم او له سره ژوند پيل

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کړم او بیا یې زما لاس ښکل کړ. په ښکلولو کې یې یو ډول راښکون و. ما هم نه غوښتل، چې پرته له هغې یوه شېبه تېره کړم. ورته مې کړه، چې مینه درسره لرم. هغې بیا اسویلی وکړ او زیاته یې کړه، چې زه به بې له تا مړه شم. ته مې د ژوند ساه یې ما ځان بېرته راقابو کړ او خپل حالت ته راستون شوم د موټر پر ملګرو مې بیا نظر واچو څو د هغوی فکر مطالعه کړم.

حسنا مینې ته ډېره لېواله وه او په هر حالت کې یې زما لمس کول غوښتل. ما ځان لږ څېرک ونیوه او ورته مې د ناستو ملګرو پر لور اشاره وکړه، چې موږ ته متوجه نه شي. هغه به لږ صبر شوه. خو زړه یې نه صبرېده. بیا به یې حرکت پیل کړ. ټوله لار مو همدې غرق سمندر کې په غوپو وهلو تېره کړه. زما او د حسنا زړه له یو بله نه صبرېده. د یو بل معتاد شوي وو. هیڅ مو نه غوښتل. چې څوک دې زما او د حسنا تر منځ حایل جوړ شي.

*********

د سفر مزل مو رالنډ کړ. موټروان حسنا تر کوره ورسوله او زه یې هوټل کې ښکته کړم. په ځان کې مې یو ډول بدلون احساساوه. هیڅ نه پوهېدم. چې څه حالت راباندې راغلی. خو په زړه کې مې یو بل ډول احساس و. یو خوځښت و. چې هم یې راته زړه درداوه او هم یې خوښي راکوله. د هغې لیونتوب او زما لیوالتیا هر څه یو عجیب حالت اختیار کړی و. یو څه شېبه مې ځان ارام کړ. د هوټل په ګرمو اوبو مې ځان ښه لوند خېشت کړ. ستړیا مې یو څه کمه شوه. د ډوډۍ وخت شو. ماښام ډوډۍ مې وخوړه خو نه پوهېدم. چې ولې هر څه په ډېرې تادۍ کوم.

په خپله بستره مې سر کېښود. غوښتل مې ارام وکړم. چې د تیلیفون غوږۍ وکړنګېده. راپورته مې کړ. دا حسنا وه. د سلام کولو سره یې غږ کې ډېر تاثیر و. هغه غږ. چې له مودو محروم انسان ته د ژوند

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خوښي ورکوي، هغه غړو چېرته چې د عمر ارامتيا او تل پاتې خوشحاليو هيله راژوندۍ کېږي.

له روغ بړ وروسته يې د راحت او ارامتيا پوښتنه وکړه. ما ډاډ ورکړ او ورزياته مې کړه، چې په ژوند کې د لومړي ځل لپاره مې يو نوی سفر تجربه کړ، چې هيڅکله مې هم تصور نه و کړی. زه له تا سره ارام يم او بې له تا به تل زما ژوند نيمګړی وي، ته ډېره جذابه يې. ستا هر حرکت، ستا خبره، ستا ښکلا يو بېل ډول راښکون لري. تل مې ستا ښکلا د سترګو پر وړاندې درېږي. نه پوهېږم ته ولې دومره د کمال ښاپېرۍ يې. له دې سره هغې هم خپل حالت څرګند کړ او زياته يې کړه، چې زه دې له زړه خوشحاله کړم. دا سفر مې د ژوند له ټولو خوږو خاطرو په کتاب کې ثبت کړ، خو نه پوهېږم، چې پرته له تا به مې ژوند څنګه وي.

هغه غړيو ونيوه غړ يې وران شو، د هغې سلګۍ مې واورېدې، زما هم مرۍ خپه شوه، تيليفون مې له خولې لرې ونيوه او د ډکه ساه مې واخيسته. هغې را غږ کړ، چې دا شپه ولې له نورو شپو متفاوته ده. ولې نه سبا کېږي. ولې زه خوب نه شم کولی. ما يو څه ځان په تاب کړ او ورته مې ډاډ ورکړ، چې بايد د سفر ستړيا وباسو، سبا بيا سره ګورو، ډېرې کيسې به وکړو.

په خبرو خبرو کې يې وويل، چې سبا ته هم سفر لرو. ما ورزياته کړه، چې سبا غواړم پاتې شم. له خپلو ملګرو سره وګورم. ورپسې د رخصتۍ ورځ ده. بيا به د بلې اونۍ له پيل څخه د نورو سفرنو په اړه تصميم ونيسو.

پای مو د يو بل څخه په مننې وکړ او د شپې فکر تال ته مې تالی ورکړه. شپه مې زياته د هغې په اړه په فکرونو کې تېره کړه. هغه د هوسۍ په څېر ډېره تازه وه. نرۍ غزالې سترګې يې د زړه رګونه په جوش راوستل

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لکه د شفق کرښې په څېر سره ځلېدله، د حسن په ښاپیریو کې یې ثاني نه وه.

*********

انسان د طبیعت مرغه هغه وخت د خوشحالیو نغمې زمزمه کوي، چې د طبیعت په پراخه فضا او کائناتو په خلقت کې د ازادۍ ساه واخلي. د طبیعت سره مینه کول انساني فطرت دی، چې د انسان ښکلا پېژندنې سره نیغه اړیکه لري. په طبیعت کې د انسان ازادي هم د فطرتي چاپېریال هغه ستره برخه ده، چې د ژوند اړیکې ورسره تړلې وي، خو د حسنا ازادي له وړوکوالي په دې فطرتي چاپېریال کې د وخت جابرو له لاسه سلب شوې وه، د ژوند لومړۍ ساه ګانې یې د وخت له ستونزو سره په لاس او ګریوان اخیستې وې او د ژوند په ترخو تجربو کې یې د انسان پېژندنې قوه لا پسې غښتلې شوې وه.

دا د هغې قسمت و، چې د ژوند په هره خوشحالۍ پسې به یې دغم څپې شمېرلې، د کوچنیتوب ژوند یې هم د ناڅکو په لوبو نه و تېر کړی، هغه د شپږو کالو په عمر وه، چې کورنۍ یې د کلي په لومړني ښوونځي کې ورباندې زده کړې پیل کړې، د مور او پلار یواځینۍ هیله یې دا وه، چې حسنا ستره شي او د خپل ژوند په خوشحالیو کې کورنۍ ته اوږه ورکړي. مور به یې هر سهار د هغې کالي وربدلول، د ښوونځي په بکسه کې به یې ورته خوراکي توکي اېښودل.

حسنا په ښوونځي کې ډېره با استعداده او د ښوونکو لخوا بـه هر وخت تشویقېدله، هغې په لومړیو کلونو کې د ښوونځي د تشویق او په پرله پسې توګه په لومړۍ درجه بریالۍ کېدو جایزې اخیستې، له همدې امله یې د ښوونکو په منځ کې ډېره مینه پیدا کړې وه او د مور پلار به ورته لا تمه زیاتېدله.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خپلوانو او ګاونډیانو یې د هغې ښکلا او استعداد له امله ځو وارې د هغې کورنۍ څخه د حسنا غوښتلو خواست کړی و، تر څو یې له ماشومتوبه په خپل نوم کړي. خو د هغې مور او پلار، چې حسنا یې یواځینۍ د ژوند هیله وه ورته انکار کاوه، حسنا په دې نړۍ کې یواځې مور او پلار درلود او په ژوند کې د خور او ورور له مینې بې برخې وه.

د هغې د ژوند مزل د خپلو هیلو پر لور یو څه چټک روان و، کله یې چې لومړنۍ زده کړې پای ته ورسولې نو د کلي یو څه لرې په منځنې ښوونځي کې یې خپلې زده کړې پر مخ بیولې، حسنا هم ډېره خوشحاله وه او خپلو هیلو ته یې لا زیاته تمه پیدا کېدله، د هغې عمر ورو ورو لویده، تر دې، چې په منځني ښوونځي کې یې عمر تر پیغلتوب ورسېد. د هغې ښکلا او ځواني د خلکو زړونه له ځانه سره وړل، د هغې د مخ ځلا، اننګو سوروالي او ښکلا شغلې پر ټول طبعیت خپرېدلې. هر چا یې د ښکلا ستاینه کوله، هغه د چا خبره، چې خلکو به ویل، چې هره مور، چې لور راوړي نو د حسنا په څېر لور دې راوړي، د معصومې ښکلا سره یې د استعداد قوه هم ډېره غښتلې وه، خو دا چې حسنا د یوې غریبې کورنۍ څخه وه، نو له همدې امله یې د غرور قوه یو څه ټټه وه. له هر چا سره یې همدردي وه، حسنا به د ښوونځي د ښوونکو هم ډېر خدمت کاوه، په درسونو او د خط په ښکلا کې یې ثاني نه وه، له همدې امله پر ټولو ښوونکو ډېره ګرانه وه.

اوس یې د ژوند په اړه هم احساس بیدار شوی و، کورني مسئولیتونه یې هم درک کړي و، په خپل نسبي ژوند کې به یې هم د مور او پلار په اړه فکر کاوه، د غربت په تاړاک یې د خپلې ځوانۍ او ښکلا غرور هم نه شو ماتولی، په منځني ښوونځي کې یې لا څه مو ده پاتې وه، چې د خپلې کورنۍ د خپلوانو لخوا به ګوابنېدله، د هغې د کاکا ځوی، چې غوښتل یې له حسنا سره په یو نه یو ډول اړیکه وساتي د هغې لاره به یې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ځارله، خو حسنا نه غوښتل، چې په دې عمر کې د خپل ژوند لـه سر نوشت سره يوائې د هواسو لوبه وکړي او له خپلې کورنۍ ځان بېل کړي.

حسنا د معمول په څېر ښوونځي په لار وه، چې د کاکا ځوی ورتـه لار نیولې وه، حسنا پرې سلام واچاوه او هغه یې د سلام ځواب په ډېره بې پروايي ورکړ، ورته یې زیاته کړه، چې مور او پـلار دې زموږ کورنۍ تـه د خپلوۍ انکار کړی او بیا یې د بهانې په توګه لا پسې زیاته کړه، زه غـوارم، چې تاسو د غربت له ژونده وژغورم خو تاسو هیڅ کله هم د ځان ددې جوګه نه ګڼئ، د حسنا په سترګو کې اوښکې راغلې او په مړ ژواندي غږ یې ورته وویل، ګوره فولاده، ته پوهېږې، چې زه د مور او پلار یوائېنۍ لور یم، د هغوی ټوله اسره زما ژوند پوري تړلې او زه خو لا تر اوسه د عمر په لومړنیو کلونو کې ژوند کوم، زما مور او پـلار زما پـه اړه مناسب تصمیم نیولی شي او ښايي دا به ورته تر ټولو مناسبه وه، چې ستا کورنۍ ته یې انکار کړی دی.

د فولاد ګواښونو حسنا اړ کړې وه، چې یا یې قبول کړي او یا هم له خپلو زده کړو په کور کښېني، اوس یې ژوند پـه دوه لارو کـې تـم و، چې بایـد څـه وکـړي، خـو دا هر څـه بـه یې یوائې پـه پټـه خولـه زغمـل، خپلـې کورنۍ ته یې هم نه شو ویلی تر څو یې له زده کړو راونه ګرځوي.

حسنا د پلار ژوند یوه برخه په نظامي چوپړ کې تېره شوې وه او د عمر پاتې برخه یې پردیو مزدورۍ خوړلې وه، د ژوند کور یې په ډېر غربت کې جوړ کړی و، د حسنا پلار ژوند بـه تـل د خلکو پـه سترګو کـې اوښکـې راوستې، هغه د هیواد د انقلاب هغه سر تېری و، چې د عمر ډېره برخه یې د کلي لرې د شپو په شبګیرو کې له هیواده د ساتنې پـه پـار تېره کړې وه، خو اوس چې د حسنا عمر ځوانۍ په جوش کې و او په منځني ښوونځي کې یې زده کړې کولې او د پلار عمر یې تر بوډاتوبه رسیدلی و، حسنا یې د

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ژوند وروستی اسره وه، چې لویه شي او د هغه د ژوند پېټی وربانديې سپک شي.

د هغې پلار د هیواد ساتنې او سربښېندۍ له امله څو وارې له سختو زخمونو په روغتون کې شپې کړي وې، کله کله به یې د مرګ اوازه هم ګډه شوه، خو له ډېرې بې هوشۍ وروسته به یې بېرته د ژوند ساه واخیسته، له واده وروسته یې هیله وه، چې د ځامنو په ثمره ژوند وکړي، خو دا چې د ژوند زخمونه یې ډېر لیدلي و، تل به خپل ارمان پسې لا اخیستی و، د هیلو نړۍ یې هغه وخت راتانده شوه، چې د واده په لسم کال یې له خدایه تمه پیدا شوه، چې اولاد ورکړي، د همدې هیلې په پار یې پوره کال د ژوند خوشحالۍ نمانځلې، تر څو حسنا نړۍ ته سترګې پرانستې، د حسنا پلار ته بې تفاوته وه، چې اولاد یې لور ده او که څوی، خو بس د زړه غوټه یې وسپړل شوه، د خپلې مېرمنې هم ډېر احسانمند و، چې د ژوند ټولې تیارې یې ورسره په خوشحالۍ تېرولې.

پلار به یې حسنا ته ډېر ناز ورکاوه او د هغې د هیلو پوره کولو لپاره یې له هر ډول ستونزو ګاللو دریغ نه کاوه، خو اوس چې عمر یې هم خوړلی و له نورو اولادونو یې هم تمه پرې شوې وه، د حسنا په پالنه کې یې هر ډول ستونزو سره مبارزه کوله، حسنا هم ورو ورو لویدله، د خپلې کورنۍ حالاتو به هم څوروله او هم به یې همت ورکاوه، حسنا، چې د ژوند په ښو او بدو پوهه شوې وه او کورنۍ ستونزې یې هم درک کولی شوې د خپل سرنوشت ټاکلو پر ځای یې د مور او پلار هیلو ته ډېره پاملرنه کوله.

یوه ورځ، چې حسنا له ښوونځي راغله، په کور کې یې خپل پردي راټول و، د هغې ترور حسنا پر تندي ښکل کړه او د هغې حوصله یې ور لوړه وله، ترور یې ورزیاته کړه، چې مور او پلار به دې راشي، تر هغې مو ستا خدمت کوو، حسنا پوه شوه، چې د خلکو دا راټولېدنه د کومې ښادۍ نه، بلکې د هغه همدردۍ ده، چې له یو چا نه د سر سیورې لرې کېږي او یو

Made with Xodo PDF Reader and Editor



څوک باید ورته ډاډ ورکړي، زر یې له ترور وپوښتل، چې مور مې چېرته تللې او پلار خو مې ماښام ناوخته له مزدورۍ راځي تاسو ولې هغه ته په تمه یې، داسې خو به نه وي، چې کومه پېښه شوې وي.

ترور یې ور غېږ کړه، بس یو اځې ستا د پلار د روغتیا پوښتنه مو کوله، مور دې ویل، چې فشار یې لوړ شوی، یو څو تنو هغه تر کوره راورسولو، مور دې په کور کې یو څه درمل ورکړل، وضعیت یې لږ ښه شو خو د لا ښه کېدو په پار یې تر روغتونه رسولی، حسنا هم یو څه ټکنی شوه او پوښتنې یې لا پسې وغځولې، زما په پلار څه شوي او هغه یې کله راوړې، څوک ورسره تللي، زه هم ورځم، ترور یې چې د پاخه عمر ښځه وه هغه تر لاسه ونیوله او ورته یې کړه، چې هغه د ډاکترانو تر کتنې لاندې دی، د ترور ځوی دې له هغوي سره دی، ډېر ژر به یې د صحت حال راوړي.

دوي لا په همدې خبرو کې و، چې یو ډله سړي د کور په دروازه راننوتل، د کور پر خلکو یې غږ وکړ، چې تاسې یو لوري ته شئ، ځای پرېږدئ، شور مه جوړوئ، هر څه د خدای په امر کېږي او له دې سره د حسنا مور پر حسنا راټوپ کړل، لورې پلار دې له موږ ځان بېل کړ، بلې نړۍ ته یې کډه وکړه، وګوره، چې موږ یې یواځې پرېښودو.

حسنا، چې لا د ځوانۍ په درشل کې وه بې اختیاره چغې کړې، چې پلار مې ولې مړ شو، موږ به څه کوو، زه به بې پلاره ژوند څنګه کوم او دې سره یې د پلار پر کټ ځان راګوزار کړ، د هغې په ښکلي بشر او ښایسته څېره کې د غم کرښو داسې ناتار جوړ کړی و لکه د ګلو پر باغ، چې د وخت طوفان بې رحمه سیلۍ ولږي، د هغې له رخساره ښکلا تللې وه، په څېره کې یې د غم او خفګان اوښکو لارې جوړې کړې وې، هغې لا د ښوونځي کالي هم نه و بدل کړي، کالي یې پر خړو خاورو داسې اخته کړه لکه مرغۍ، چې د ښکاري په ډز لګېدلې وي، په خړو خاورو کې توغېده او د پاڅېدو وس یې نه لاره.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



*********

د حسنا له سره هغه سیوری لرې شوې و، چې د ژوند په هره ګړۍ کې یې هغه ته تکیه کوله. اوس د خپلې مور سره د خپلو ماماګانو په در کې یې د ژوند شپې سبا کولې. مور ته یې خپلو ورونو څه لاس ورکړی و، د حسنا په پالنه کې یې څه کمې نه راوست تر څو د پلار په نه شتون کې ورته د څه کمی احساس ونه شي.

مور یې تل د خپلو ورونو ډېره احسانمنده وه، د خپلې لور د پالنې په پار به یې د هغوي خدمتونه کول. د کور په کارونو کې به حسنا او مور دواړو یو بل ته لاس ورکاوه او د خپل ژوند مړو ډیو ته به یې پیلوزي بلول. حسنا هم د معمول سر سم خپل ښوونځي ته تلله او هم یې د کور کارونه کول، تر دې چې د عمر په اتلس کلنۍ کې یې د ښوونځي زده کړې پای ته ورسولې. د ښوونځي ملګرو یې د لوړو زده کړو لپاره ځانونه چمتو کول، خو حسنا، چې د خپله واکه وتلې د ځان او مور لپاره د یو کپ روزي پسې د بل په کور کې ژوند تېراوه اوس یې یواځینی پام د خپلې مور سره په چارو کې مرسته کول و، او په دې پار یې د خپلو ماماګانو په کور کې د ځان او مور نس مړاوه.

د حسنا ټول ارمانونه په زړه پاتې شول، د هغې هغه خوبونه، چې خپل مور او پلار ته د ژوند خوشحالي ورکړي هم یواځې د نس مړولو پورې محدود پاتې شوی و.

د هغې ژوند ورځ تر بلې خرابېده، د خپلواک ژوند څخه بندي شوی مرغۍ اوس د خپلو خوړو په پار په یوه پنجره کې د نورو خوشحالولو لپاره یواځې ګونګې غاړې کولې، تر څو د خپل زړه درد پرې قلار کړي.

یوه ورځ یې د فکر تال د ښوونځي ملګرو پر لور رهي کړی و، هغې ته د ښوونځي ښوونکي ور په یادشول، د هغوي تشویقونه او ترحم

Made with Xodo PDF Reader and Editor



يې په سترګو کې د اوښکو ډنډ جوړ کړ، بې واره يې د خولې غټې غټې سلګۍ راوتلې او په سلګيو کې يې د پلار نه شتون پسې ارمانونه کول. د خپلې بې وزلې کونډې مور غم لا پسې ژړوله او د غمونو په دې کاروان کې يې د ښکلا جوهر هم بدلون کړی و، هغه اوس يوې خزان وهلې پاڼې په څېر اوښتې. د هغې ګلابي شونډې د وچو پاڼو په څېر اوښتې وې، خدای پوهېږي، چې په زړه به يې څومره ارمانونه و، چې بايد خپلې موخې ته ځان ورسوي خو د ژوند ناتار يې تولې هيلې له خاورو سره خاورې کړې وې.

حسنا کور ته راننوتله او نېغه د مور خوا ته لاړه، د هغې په غېږ کې يې ځان ګوزار کړ او د خپل زړه دردېدلي زخمونه يې ټکورول، د حسنا عمر همداسې تېرېده. مور يې هم د هغې ځورېدلي ژوند لا پسې خفه کوله او دې خفګان يې د ژوند تېوله مټره اخيستې وه. هغې هم د ځوانۍ عمر خوړلی و، يوا ځې دا ورپاتې و، چې د حسنا راتلونکي لپاره له خدای څخه دعا وغواړي. حسنا يې پر خپل کاکا ځوی هم پيرزو نه وه، سره له دې چې د کاکاګانو ژوند يې يو څه ښه و خو پر ښځو يې د ظلم کولو نوم لاړه. هغې د خدای څخه غوښتل، چې حسنا ته يوه مهربانه کورنۍ ورکړي تر څو يې د زړه زخمونه ټکور کړي. له خپله ژونده يې تمه پرې شوې وه، خو د حسنا لپاره تل ځورېدله.

حسنا، چې يوه بې کوره انجلۍ وه هيڅ د خلکو په نظر نه راتله، چا يې د غم اسويلي نه شو درک کولی او نه يې هم د ژوند د خوشحاليو لپاره هغې ته اوږه ورکوله، د هغې ژوند د پېړيو وړاندې زمانې ته تللی و، چېرته چې به خلکو نجونې د وينځو په څېر په خپلو کورونو کې د کورنيو کارونو لپاره ساتلې او په يوه خېټه ډوډۍ به د کور ټولې چارې پرې کولې.

حسنا، چې لا دمخه يې په ژوند کې خفګان غوټې وهلې وې نن د يو څه کار لپاره له کوره باندې راوتلې وه، فولاد يې پر مخه راغی، حسنا له حيا سترګې لاندې واچولې او پر خپل لور روانه وه، فولاد يې مخه ونيوله

Made with Xodo PDF Reader and Editor



او تر څوا یې راڅرګدې شو، حسنا د غم په ټال زنګېدلي غږ ورزیاته کړه، چې فولاده د زړه زخم مې مه زیاته وه. زما او ستا تر منځ د پلرونو وروري وه او نه څو بیا د مشر کاکا مشر څوی یې ماته تل د خپل پلار په څېر ښکارې، زه څو ستا د عمر تر دریمه هم نه یم، ته بې له دې هم ژوند لرې اولادونه لرې، د عمر یو څه برخه دې خوړلې او زه ستا د لور پر ځای یم. ددې پر ځای، چې ماته ډاډ راکړې او د راتلونکې کور په اړه مې فکر وکړې تل زما د زړه زخمونه تازه کوې. خو فولاد بیا ورغبرګه کړه، چې حسنا که زما عمر او ژوند هر څه وي خو ته به خوشحاله یې. هسې هم ستا تعلیم مالیم تر منزله ونه رسېد او زه هم ستاغوندې نیمه سواد لرم. ستا ژوند د غریبۍ دی خو زه ډېر څه لرم ستا وخت به راسره ښه تېرېږي.

حسنا ډوبې سلګۍ ونیوله. د فولاد پر وړاندې یې هیڅ نه شو ویلی، بس همدومره یې وویل، چې که خدای ماته مرګ هم راولي نو بیا هم ستا په جولۍ کې به سر کېنښېږدم. دا زما د ژوند مسله ده او د مور پالنه مې تر هغه په غاړه اخلم تر څو یا د هغې ساه نه وي ختلې او یا هم ما سترګې نه وي پټې کړې.

فولاد. چې له وړاندې یې هم ذهني توازن جوړ نه و ډېر له قهره یې حسنا پر مخ په څپېړه ووهله، حسنا سلګۍ لا پسې زیاتې شوې او له غریو ډک اواز کې یې وویل، چې خدای دې ستا د کبر کاسه نسکوره کړي. زموږ د غریبو پر حال رحم وکړې خدایه!

بله ورځ د فولاد کورنۍ د حسنا له ماماګانو کره د هغې غوښتلو لپاره راغلل. د حسنا مور او ماما یې کېنول تر څو د هغې خپلوي د فولاد لپاره وغواړي. د فولاد کورنۍ له حسنا مور او ماما څخه وغوښتل، چې دا یتیمه نجلۍ زموږ د کور او کونډې ورېندار لور ده او باید د هغې پالنه موږ وکړو، په خپل ژوند کې یې راشریکه کړو. خو د حسنا مور ورغبرګه کړه، چې د هغې پلار ستاسو ورور و. خو د ژوند په ټولو سختیو کې مو

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کله هم د هغه لاس نیوی ونه کړ، بل دا چې فولاد خو کورنۍ لري د هغه زلمي اولادونه دي. حسنا یې د لور پر ځای ده، د دوي دواړو تر منځ به ښګه اړیکه جوړه شي، تاسو حسنا د خپلو اولادونو د پالنې او ساعتیرۍ لپاره غواړئ نو هغه د ژوند کولو حق لري. د یوې کورنۍ جوړولو حق لري ، د هغې تللې خوشحالۍ بېرته راوستل په یو داسې کورنۍ کې چې تر مخه یل چا جوړه کړې وي ناشونې ده.

د حسنا ژوند وروستۍ هیلې هم د هغې د ژوند سره لوبې کولې، د قسمت غوټه یې په داسې کورنۍ کې تړلې وه، چې نه ترې وتلای شوه او نه یې هم د رغولو هیلې پاتې وې، د خپل ژوند سره تل لاس او ګریوان وه. له واده وروسته یې هم د ښوونځي هیلې تاندې وې، خو نصیب یې ورسره هم لاری نه و، هغې یواځې وکولی شو، چې په ولادي برخه کې تر دوه کالو نورې زده کړې وکړي خو وروسته یې د کور مسئولیتونه هاغه وخت لا پسې زیات شو، چې مور یې له بدني کمزورۍ په رواني ستونزو اخته شوه، هغې کله هم د خپل پېغلتوب ژوند څخه خوند وانخېست، د ژوند تللې خوشحالۍ یې بېرته رانغلې، لا یې هم د زړه مستې په ستومانۍ بدله نه شوه، د راز او ناز کېسې هماغسې په زړه پاتې وې، کله یې هم د مینې ټپې په خوله راونه وتلې او نه یې هم د نیمو شپو خوږې نغمې زمزمه کړې. بس د خدای په اسره یې ژوند تېراوه.

له مجازي نړۍ یې تمه پرې شوې وه، بس همدومره پوهېدله، چې باید د خپلې مور لپاره ژوند وکړي او د عمر په وروستیو کې یې د هغې تر سیورې لاندې د ژوند وروستۍ شپې سبا کولې.

*********

حسنا د یوې ساحوي ماموري په حیث یو دفتر کې دنده پیل کړه، زه هم د همدې دفتر د یوې برخې مسئول وم، د خپلې دندې او

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ماموریت په پار د یو څه چارو د سمبالولو په موخه تر هغه ساحې راغلی وم چېرته چې د هغې بې وزلې ښکلا د نور شغلې ختلې.
سبا ته مې په دفتر کې خپلې پاتې چارې تر سره کړې، له کارمندانو سره مې د کارونو او سفرونو په اړه ځینې اړینې مسلې شریکې کړې، پوره نیمه ورځ مې له خپلو کارمندانو سره تېره کړه، حسنا ساحې ته تللې وه، هیڅ مې زړه نه صبرېده، یو داسې حالت سره مخ ووم، چې له هغې پرته رابانديې ورځ نه تېرېده، د تېرې ورځې سفر ټولې صحنې مې تر سترګو کېدې، زما حالت هم هغه چاته ورته وو لکه ډېر قیمتي سوغات، چې یې ورک کړی وي، یو ډول وارخطایي مې احساسوله، ورځ له نیمایي تېره وه، خو د هغې هیڅ معلومات نه کېده، زړه مې غوښتل زنګ ورته ووهم خو بیا به مې ځان قابو کړ، په دفتر کې یو خوا بل خوا اوتر اوتر ګرځېدم، اشپز د غرمې ډوډۍ راوړه، اشتها مې سوځېدلې وه، بس یو دوه مړې مې وخوړې، د ارام خونې ته لاړم، چې ارام وکړم، د دفتر کارمندان، چې نن یې د کار نیمه ورځ وه هر یو خپلو خپلو کورونو ته لاړل، په دفتر کې یواځې اشپز او څارونکی پاتې و، اشپز، چې ډېر ستړی و، په بله خونه کې په ډوب خوب ویده شو، څارونکی هم پر خپلو کارونو بوخت و، ناڅاپه دروازه وټکېدله، څارونکي دروازه خلاصه کړه، یو څوک دفتر ته راغی او څارونکی بېرته په خپله دنده بوخت شو، غږ ښځینه و، خو هماغه زړه راښکوونکی غږ و، چې زه یې بې واره په تمه وم، حسنا له ساحې رغلې وه.
ما څارونکي ته وویل، چې حسنا پاتې کړه او ورته ووایې چې د تېرو ورځو کارونو په اړه باید خپل راپور چمتو کړو، حسنا دفتر ته په داسې حال کې راغله، چې ځان یې تر پخوا لا ښکلی کړی و، د چسپ پتلون سره یو ډول کالي، چې هر لیدونکي فکر یې ځان ته اړاوه اچولی و، زما ارام خونې ته راننوتله او له راننوتلو سره سم یې یو سوړ اسویلی له خولې وویست، غږ یې خپ شو، فکر کوم ډېر څه یې زړه غوښتل، چې ووایې خو

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خپل حواسو اجازه نه ورکوله. بس همدومره یې وویل، چې زه بې له تا ژوند نه شم کولی، ستا مینې مړه کړې یم. دا څه حالت دې راباندې راوستی، چې یوه شیبه هم پرته له تا نشم تېرولی. ښایي زما حالت هم همداسې و، خو ځان مې د هغې پر وړاندې هېر کړی و. ټول فکر مې د هغې پر لور و، ما ورته د خپلې کار خونې پر لور د تلو اشاره وکړه، چې پاتې خبرې به هلته کوو. هغه هم سمدستي پاڅېدله او زما د کارخونې پر لور یې حرکت وکړ.

خونې ته د ننوتلو سره سم یې له ما غېږ تاوه کړه. لکه ماشوم یې کلک په غېږ کې ونیولم د خپل بدن ټول زور یې و ازمویلو. د تېر ژوند ټوله کیسه یې په لوړه لوړه را ته تېره کړه، د ژوند ناخوالو یې پر زړه د محرومیت پردې خورې کړې وې. د ماضي کبرجنو ټکونو یې پر زړه زخم جوړ کړی و. جابرې زمانې یې پر پښو د حالاتو بیړی تړلې وې او د ماضي ساندو یې د مینې زمزمې ور خپ کړې وې، د هغې مینه د ځوانی او پیغلتوب له جوشه نه بلکې د محروم ژونده څخه د بېرته راګرځېدو په پار وه. هغې په تروږمۍ کې د ژوند بل مشالونه لټول. او په همدې لټه کې له ماسره د خپل زړه نه مجبوره شوې وه. په خپلو ماتو ګوډو حواسو یې د خپې مرۍ همدومره غږ راواته ، چې بې له تا ژوند نشم کولی. ماته د ژوند خوشحالي راکړه. د ژوند ساه مې شه. د پېغلتوب نغمې مې په جوش راوله، زما د زړه غږونه واوره، چې هره لحظه تا یادوي، د زړه هره درزهار مې ستا پر لور نارې وهي.

هغه مې پوره شېبه په غېږ کې نیولې وه. ځان مې را کلک کړ او ورته مې وویل په دفتر کې اشپز او څارونکی دي، هغه مې په خونه کې پرېښوده. د باندې راغلم غټه ساه مې واخیسته. بې بنګو نشه وم. د خمار تالی مې وهلې. اشپز په خونه کې ویده وو. څارونکی په خپلو چارو بوخت و. ځان مې راټینګ کړ. څارونکي مې راغوښت او ورته مې وویل،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



چې موږ یو څه دفتري کار باندې بوخت یو او د اړتیا په وخت به درته غږ کوم، بېرته دفتر خونې ته راغلم. پر خپله چوکۍ کېناستم هغه، چې تل د مینې محرومه وه له کېناستو سره سم یې بیا زما په غېږ ځان راګوزار کړ، پر مخ او تندي یې ښکلولوم خپله تنده یې سیرابوله لکه د کورنۍ ورکې شوې ماشوم، چې له ډېرو ورځو وروسته بېرته خپلې مور غېږې ته راشي او په وار وار یې ښکلوي.

هیڅ په ځان نه وم پوه شوی، چې څه حالت سره مخ وم، خو کله چې مې پام شو د هغې مخ مې پر خپل مخ پورې کلک نیولی و، له سترګو یې اوښکې روانې وې او سلګیو نیولې وه، د سترګو اوښکې یې زما تر خولې رارسېدلې وې په ژړا کې یې مړاوې مسکا کوله، داسې خوښي یې څرګندوله، چې ګویا له ډېرې مودې یې تنده ماته شوې. بیا یې زیاته کړه، چې مینه هم څه عجیبه ده، انسان له مادي نړۍ څومره لرې بیایې، ستا خاموشي زما وارخطایي. فکر مې وکړ، چې د حالاتو جبر مې بیا د مخې خنډ نه شي، زما د ژوند ټوله کیسه د وختونو په زلنو تړل شوې او له پیلېدو تر مخه د پای ټکي ته رسیدلې زه د وختونو له ظلمه تر ستونې راغلې یم. هیڅ د خوښۍ وخت راسره ملتیا نه کوي، ښایي ته مې د ژوند وروستۍ ساه یې له ما سره کلکه وعده وکړه، چې یوازې به مې نه پرېږدې، ماته به زما خوشحالۍ راکوې. زما د ژوند تقدیر بدل کړه، که نه ژوند به مې ستا په غېږ واخلم. د هغې د اوښکو پورې ماته د اردو ژبې یو شعر رایاد شو، چې مطلع یې داسې وه:

اوښکې که د خوښۍ وي او یا د غم بهېدل یې یو شان دي.

هغې له سترګو اوښکې بهېدلې خو په زړه کې یې یو ډول خوشحالي او ارامتیا احساسوله. په ډېر مړ غږ یې وویل «ته پرښته یې، خدای زما د خوشحالیو لپاره رالېږلی یې، ته انسان نه یې» او بیا یې زما په غېږ کې سر کېښود، یوه شیبه مې د هغې په وېښتانو کې ګوتې وهلې،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د هغې اوربل مې د هغې پر مخ راخور کړ او بیا مې په پوکې ورکولو بېرته ور ټول کړ. هغه لکه د بنګو خمار زما په غېږ کې پرته وه. یو ډول د خوب پرېشاني یې احساس کړه. غوښتل یې زما په غېږ کې اوږد ارام وکړي او د کلونو کلونو ارمانونه د مینې په خوب کې پوره کړي. بیا یې زما تر ملا لاس راتاو کړ. خپله سینه یې زما سینې پورې کلکه ونیوله. لکه نازولې ځوی. چې مور سینې پورې نژدې کړي. د غني خان هغه شعر مې را په یاد شو، چې وایي:

سینه دروړې سینې له د بخمل هسې ربنمینه
د ارمان او مینې ډکه د نـــرګسونـــه نیازبینه

د هغې سینه په رښتیا هم له ارمان او مینې ډکه وه. ځان یې داسې احساساوه لکه د ټول عمر ارمان یې چې اوس پوره شوی وي. غږ یې کښېناست او ټیټ اواز یې مړې خبرې پیل کړې. «ته ځوک یې په ما دې ځه وکړل» زه وارخطا شوم. چې ګویا دا هر څه د یو لیونتوب له مخې د هغې د خوښې خلاف تر سره شول. ولې پښېماني احساسوي. له دومره حالته وروسته ایا هغې نه غوښتل. چې داسې حالت ته ورسېږي. ایا د هغې فشار خو به ډېر ټیټ شوی نه وي. چې له کبله یې هر څه ته په انتقادي نظر ګوري. حسنا بله ساه واخسته او زیاته یې کړه. چې زه له تا پرته ژوند نشم کولی. لامې په غېږ کې پرته وه او پر مخ او وېښتانو مې ورته لاس واهه. هغه بېرته ارامه شوه او د مخ په څېره کې یې د مننې په پار د خوښۍ نښې څرګندېدې. له پوره ارام وروسته راپورته شوه. ځان یې سمبال کړ. پوه شوم. چې بېرته عادي حالت ته راغلې. له ما یې د مینې نښه وغوښته او ما هم د هغې په مړۍ کې د مینې نښې رابکلې. له دې سره د خپلې کار خونې باندې راوتلم.

ځارونکي ته مې غږ کړ. چې یو څه ښناک شربت راوړي. هغه مې له دفتره باندې ولېږه بېرته کارخونې ته راننوتلم. هغه خپل سینګار توکي

Made with Xodo PDF Reader and Editor



له بېګه راواخسته. وړه آینه یې هم راوویسته، وښتان یې جوړ کړه، شونډو ته یې رنګ ورکړ او دسینګار په آینه کې یې بېرته ځان د پخوا په څېر برابر کړ. ځارونکې راغې یخ شربت یې پر مېز کېښود.

حسنا ډېره خوشحاله معلومېده، کور ته یې د تللو تکل وکړ، ما ورته د شربت ځنبلو وویل هغې هم په سر راواړوله او په تللو کې یې بیا وویل، چې کورته تلل مې زړه نه غواړي، له تا نشم بېلېدلی، که ته د هر غره تر شا یې زه به درسره یم، ستا په غېږه کې به د خپلو ټولو شبګیرو خوب پوره کوم، ستا شونډې به ښکلوم، د خپلې مینې تپې به درته وایم، له تاسره په هره ډول جونګړه کې ژوند تېرول غواړم، پرته له تا مې ژوند نیمګړی دی، ټول عمر مې د خپلې مینې په ارمان تېر کړی او اوس، چې خدای خپلې مینې ته ورسولم نو ته مې رخصتوې. ما ورته ډاډ ورکړ، چې پاتې ژوند به یو ځای تېره و، خو باید د یو مناسب وخت انتظار وکړو، د تر هغې به د خپلې مینې خوند اخلو، ته هم یوه کورنۍ لرې او زه هم اوس د کوره لرې د مسافرۍ شپې ورځې سبا کوم، حسنا زما او ستا تر منځ به هیڅ ستونزه نه راپیښېږي خپله فیصله به یو څه تقدیر ته هم سپارو خو زه به تل له تا سره د یو ځای کېدو هڅه کوم ښایي زما او ستا راتلونکي باندې د کائناتو خالق هم زړه سواندې شي، هغه موسکا ستا پر شونډې راخپره شوې زه به خپل ټول ژوند د همدې موسکا د ساتلو لپاره تېروم.

هغه له دفتره ووتله، زه د یو مرور ماشوم په څېر د خونې په یو ګوټ کې دیوال ته تکیه شوم، تر یوې شېبې غلی ناست وم، په فکر کې ډوب وم، ټوله صحنه مې بېرته له سره راتېره کړه، هڅه مې وکړه، چې وېده شم خو نه کېده، کری وخت مې همداسې د فکر په ټال زنګل، اخر له خونې ووتلم، هوټل ته راغلم، یو څه مې ځان تازه کړ، په ټولنیزه رسنې مې ځان بوخت کړ، خو ماته په هر څه کې اوس د هغې انځور ښکارېده، تر ماښامه همدا حالت و، اودس مې وکړ او پر لمانځه ودرېدم.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کله مې، چې فکر ورځني حالت خواته لاړ بې اختیاره مې له خولې سلګې ووتلې. د سترګو اوښکې مې پر جای نماز باندې ولګېدې کلک کلک مې وژړل او په ژړا کې مې بیا د حسنا نوم تر خولې وواته، یو شېبه پر جای نماز باندې ولاړ وم. بېرته مې سلام وګرځاوه کېناستم او د فکرونو ټال واخیست. نا څاپه مې ذهن بلې خواته ټیل وهلم. ځان مې راته ملامته ښکاره شو، چې ځنګه د یوې پردۍ تور سرې سره په داسې حالت کې واوسم، چې هغه هم د یو چا امانت وي، ولې خپل ځان له شیطاني وسوسو ښکار کړم. په همدې فکرونو کې پوره شېبه غریو نیولی وم. په ژړا مې ښه زړه سپک کړ او بېرته خپلې بسترې ته راغلم. غوښتل مې پام مې بدل کړم په یو او بل څه مې ځان مشغول کړ. شپه هم ورو ورو پخېدله. خو زړه مې هیڅ صبر نه کاوه. له هغې پرته راته ټول کائنات یو اځې ښکارېده. بیا مې زړه کې وګرځېدل. چې یوه اړیکه باید ورسره ونیسم.

پیغام مې وروا ستاوه او ورته مې ولیکل:

سلام زما خانه او زما زړګیه. خدای دې وکړي، چې ارام او هوسا به یې.

هغې راته بېرته سمدستي ځواب راکړ ، زما د سلام ځواب یې ووایه او بیا یې زیاته کړه. راحت نه یم له تا لرې پاتې کېدل راته ډېر ستونزمن دي،

ما ورته بېرته ولیکل، چې ځان دې قلار کړه، ایا له ماسره دې وخت ښه تېر شو؟

ځواب یې راکړ چې هو ، ډېر زیات، ته زما لپاره د نړۍ غوره انسان یې.

ما هم ور ورغبرګه کړه، چې ژوندۍ اوسې، ته هم زما لپاره د مینې ډیوه یې هغه ډیوه، چې په تیاره لارو کې د ژوند هر ګوډ رڼا کوي. ته ډېره غوره یې، ته ډېره ښایسته او جذابه یې.

بیا یې راته ولیکل. چې ته هم ډېر غوره یې زما ځیګره له تا سره مې وخت ډېر ښه تېرېږي،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ما بیا ورزیاته کړه، چې دا وختونه به تل زما او ستا یوه نه هېرېدونکې خاطره وي.
هغې وویل، چې دا ورځې زما د ژوند تر ټولو غوره شېبې دي، زه د خپلې مینې حقیقي مئین سره یو ځای شوم.
ما ورته د دعا په پار ولیکل، چې خدای دې تل د خوښۍ ډکې شېبې درکړي، او کله دې هم داسې ونه شي، چې زه او ته د یو بله لرې شو.
بیا یې راته وکښل، زما ژونده له تا سره هره لحظه مې په ذهن کې هماغسې پاتې ده،
ما ورته د انګلیسي ژبې هغه متل ولیکه، چې ته یوازې زما د سترګو تور یې (You are my blue eyed girl)
هغې په ندایه اواز ولیکل، چې (او زه رېښتیا هم در باندې ګرانه یم، له ما سره ډېره مینه لرې)
ما ویل هو بیا مې ترې د هغې د ژړا په اړه وپوښتل، راته یې ولیکل، چې څه ووایم، زما ستونزې ډېرې دي،
ما ورزیاته کړه، چې د ستونزو په اړه خبرې مه کوه تل ځان خوشحاله ساته، بېرته یې ځواب راکړ، چې هو درسته ده، قربان دې شم.
ما ورته نصیحتونه پیل کړه، چې په ژوند کې د خوښۍ شېبې ډېرې کمې وي او له ستونزو سره مو ټول عمر تړلی، خو موږ باید د خپل ژوند ستونزې وزغمو، هغې هم راسره ومنله، د خبرو غځولو لپاره مې موضوع بیا د ورځنې کړنو خواته یوړه او ورزیاته مې کړه، چې حسنا شونډې مې درد کوي، ډېرې دې ورودلې، ښایي ستا هم همداسې حال وي، هغې وویل، چې ستا د شونډو خوند مې اوس هم په خوله کې دی، هیڅ پرې نه مړېږم، ډېر خوند یې راکړ، زه د مینې ډېره تږې یم، لکه د للمې پټې د باران په تمه ټول عمر د یوې لحظې مینې ته تبروم او ماته دې نن ډېره مینه راکړه زه له تا څخه له زړه نه مننه کوم.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ما هم ورته ولیکل، چې ته زما د مینې ګل یې، په هر ځای کې ستا له خوږو وږمو خوند اخلم او هر ځای کې او په هره ګړۍ دې حس کوم. هغه په ربښتیا هم د مینې ډېره لېواله وه، راته یې ولیکل، چې ته خپله هغه څوک یې چې زه ورپسې په ژوند کې ګرځېدلم او بلاخره مې پیدا کړې، بیا یې راته یو انځور راولېږه کوم، چې په تېرو سفرونو کې مو اخیستی و او زیاته یې کړه، چې ډېر خوارږه سفرونه مو وکړل.

ما د شوخۍ په پار د هغې لومړي پیغام ته اشاره وکړه، چې ماته یې په موټر کې لېږلی و ، هغه وخت، چې لا مو ترمنځ یوازې د هیلې اړیکه وه، بیا حسنا ځواب راکړ، چې ته مې په موټر کې پرېشانه ولیدې ځکه مې زړه صبر ونه کړی شو نو پکار وه، چې ما دې باید پوښتنه کړې وای. ما هم ورته وکښل، چې ته د انسانانو په درک کولو کې ډېر مهارت لرې بیا یې ځواب راکړ، چې ته مې زړه یې او پر تا ښه پوهېږم.

شپه تېرېدله پوره وخت مو د پیغامونو په لېږلو تېر کړ، موضوع بدلولو لپاره راسره بله لار نه وه، نومې ور زیاته کړه، چې هغه بلې ورځې ساحې ځخه چې کوم انځورنه اخیستل شوي هغه راته راولېږه. غوښتل مې نور باید خبرې ونه غځوم تر څو مې د مجنون په څېر د عمر خوبونه ورک نه شي. هغې هم څلور پنځه انځورونه راولېږل.

بیا مې د غني خان هغه شعر، چې د ځوانۍ به جوش یې ویلی و ورته ډالۍ کړ. هغې بیا د افسوس اسویلی پیل کړه او راته یې ولیکل، چې مینه درسره لرم. ما یې خبره پرې کړه او ورته مې وویل ویده شه شپه له نیمې هم اوړېدلې، هغې راته وویل، چې خوب مې تښتېدلی، بیا مې ترې د ویډوي (ژوندي) زنګ وهلو غوښتنه وکړه، هغې هم زنګ وواهه، زما په لېدو یې بیا پر مخ خپګان څپې راخورې شوې او را ته یې وویل، چې له تا نه لرې والی مې وژني! اوس باید له تاسره وی، ته مې په غېږ کې نیولای وی.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هغه، چې به کله هم یواځې وه نو د خپلې غټې نانځکې سره به ویده کېدله ما هم وریاده کړه، چې د خپلې اېړې سره ویده شه نور سبا کېږي، هغې د هو په ویلو سره بیا وویل نه شم کولی، چې بغیر له تا واوسم. ما یې خبره ونیوله او ورته مې ویل، چې ښه شپه ولرې نورې خبرې به سبا کوو.

*********

سبا د رخصتۍ ورځ وه او زه هم له ورځنیو چارو ډېر ستومانه شوی وم، د خوب وخت مې د حسنا سره د مینې په خبرو تېر کړی و، کله مې، چې د هغې تیلیفوني اړیکه پرې کړ ډکه ساه مې واخیسته او ځان مې طبعیت په غېږ کې واچو. په ځان نه وم پوهـ شوی، چې څنګه او له څه وخته ویده شوی وم خو، چې سترګې مې خلاصې کړې د سهار لمر ټول کائنات روښانه کړی و، حسنا بیا زنګ وواهه. ماته یې لا دمخه ویلي و، چې د رخصت پر ورځ به چکر ته ځو، زما په یاد کې نه و خو هغې د تیلیفون له لارې راته وویل، چې یو څه خپلوان مې چکر ته ځي زه او ته به هم ورسره لاړ شو.

دا خبره راته ډېره نا اشنا وه، چې د یوې مینې په خاطر له یو کاروان سره د طبعیت سیل وکړم. ما ورته انکار وکړ او ورزیاته مې کړه، چې زه او ته به یواځې چکر وهو، خپلې خوشحالۍ به د طبعیت په خاموشه فضا کې ولمانځو، زما او ستا د مینې ګواهان به یواځې د خلقت جمادات وي، هسکو غرونو لمنو ته به پنا یوسو تر څو د ظالمې نړۍ هیڅ رقیب مو د لارې ازغی نه شي، خپل وخت به راستون کړو او د رڼو چینو تر غاړې به د خوښۍ نڅا کوو، هغې هم راسره ومنله.

موټر مې له ځان سره واخیست، د حسنا کور خواته لاړم، له کوره په لرِ واټن کې مې موټر تم کړ، حسنا په ډېر بل انداز او کورنۍ کالیو کې راښکاره شوه، د هغې ښکلا د کورنۍ کالیو او افغاني ټکري سره داسې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ښکارېده لکه د ګلابو ونه، چې د باغ په منځ کې راوتو کېدلې وي، داسې ښکارېده لکه د ځوانۍ سپرلی یې، چې اوس پر غوټیو سپرلو پیل کړی وي، هغه د لومړۍ شپې ناوې په څېر معلومېده. ته وایې اوس یې د جنګ ورلو تیاری نیول کېږي، نرۍ سترګې یې بیا د کجلو په سلایي د زړه په غشو جوړې کړې وې، تېره اوږده بانه او خور رخسار یې لکه د ځوارلسمې سپوږمۍ، چې د تورو وریځو په شپول کې راتاو وي، هغه ډېره ښکلې او تازه معلومېده، د موټر خواته راغله له نژدې کېدو سره یې خوشبوۍ ټوله فضا د عطارۍ هټۍ په څېر ونیوه. له ماسره په مخکې چوکۍ کې کېناسته او خپل نظر یې زما پر لور ټینګ ونیوه. ما هم مخکې له دې چې موټر ته حرکت ورکړم د هغې په حسن کې ډوب شوم، پر زنګون مې ورته لاس کېښود، د خیال نړۍ کې ډېر لرې لاړم چېرته مې موټر درولی و هیڅ راته نه ښکارېده، فکر مې د یوې شنې باغچې د بلبلو په چغار کې د هغې مستې تېپې اوربدلې او په منډو کې مې ترې غېږ تاووله، کرۍ شپه د هغې په لیدلو بوخت وم، بیا مې ورته ویل، حسنا ستا دیدن هغه فرض دی، چې قضا یې نه راګرځول کېږي، هغې راته کړه، ته په مینه ډېر باور لرې، ما ورته وویل، که مینه نه وی نو خدای به هم نه و، زما د ژوند کمال همدا دی، چې ته یې یوه ښه نمونه یې، نړۍ راته هغه وخت ښکلې وي، چې ته مې په خوا کې یې، حسنا غلی غږ کړ، د مینې فلسفه ډېره اوږده وي خو اوس باید حرکت وکړو، دا زموږ د کور مخه ده خدای مه کړه څه پېښه ونه شي.

موټر مې راتاو کړ، ورو ورو مو حرکت پیل کړ، ما د هغې له ښکلا خوند اخیسته قلار قلار مې ورسره لوبې کولې، هغې زما لاس کلک نیولی و او په خپلو نرمو ګوتو یې موښل، د هغې هر حرکت د جل وهلې مرغۍ په څېر د اوبو تندې اوتره کوله، هیڅ شبېه یې نه پرېښودم. موږ لکه د عمرونو وروسته بیا څلي یوځای شوی مئینان هیڅ د یو بل په دیدن نه مړېدو، ټول کائنات مو تماشه کوله زه د مجنون په څېر له مجازي نړۍ ډېر بې پروا روان

Made with Xodo PDF Reader and Editor



وم، یو څه لاره مو وهلې وه خو هیڅ تصمیم مو لا نه و نیولی، چې چېرته به ځو. بس یو غزېدلې سرک زموږ لار لنډوله.

هغه، چې وايي مئینان ړانده وي، موږ هم د ړوندو په څېر خپل چکر په مخه کړی و، هر څه مې له فکره وتلي وو. بس یو اځې د حسنا ښکلا راته د ژوند لاره رڼا کوله. زه پر ځان نه وم پوه شوی، تر مخه مې یو سپین رنګ نوی ماډل موټر ولاړ و. خدای پوهېږي، چې له کله به موږ پسې شوی و او ما به کله موټر تم کړی و. خو د حسنا ښکلا مې هر څه هېر کړي و، له موټره دوه تنه راښکته شول او د سلام اچولو سره یې ماته د ښکته کېدو وویل، د بل موټر پر لورې یې رهي کړم. فکر مې وکړ، زه خو دلته کوم داسې ملګری هم نه لرم اخر دوي څوک دي، خو کله مې، چې ولېدل د یو سره تمانچه او بل د هتکړیو سره په بل موټر کې ناست و، روغ بړ مو وکړ، زما په خوله کې لاړې وچې شوې. پوه شوم، چې د کوم راپور له مخې ټوله قضیه ورته روښانه ده، هڅه مې وکړه، چې قناعت ورکړم. خو هیڅ کار یې ونه کړ، خوله مې لاپسې وچېده، ځان مې زړور کړ، د هغوی سره په موټر کې اوبه وې ما ترې وغوښتلې او هغوي هم دریغ نه کړې. خوله مې لمده کړه او بیا مې ورته په خبرو پیل وکړ. په همدې حالت کې حسنا هم له موټره راښکته شوې وه، هغې زما حالت په لېدلو ډېره وارخطا وه. ښکلې او پستې شونډې یې د خزان وهلې پاڼې په څېر وچې وې، د مخ څېره یې زېړه اوختې وه، د هغې حالت نور هم ځورولم، هغه، چې ټول عمر د مینې تندې اخستې وه، اوس یو ځل بیا د خپګان څپې پر مخ راخورې شوې، ښايي زه هم ورته حالت کې وم، خو هغه تر ما ډېره بد حاله وه. سلګیو نیولې وه، خو ما به ځانته جرئت ورکولو او له دوی سره مې خبرې کولې تر څو د سپیناوي په پار یو څه ووایم، همدې حالت کې مې د حسنا له خولې همدومره واورېدل، چې په ډېره نابېره کړیکه یې چغې کړې، له دوي څخه وتښته.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



له هغې چغې وروسته په ځان نه یم پوه شوی چېرته یې بوتلی وم او څنګه یې بوتلم، پر حسنا هم پوه نه شوم، چې په څه حالت کې وه او چېرته به یې زما د بېرته راتلو انتظار شېبې تېرولې، د هغې حالت به څنګه و، دوي به له حسنا سره هم ورته چلند کړی وي، ایا د کورنۍ کوم کس خو به یې زمونږ شا نه وه نیولې، هغه به زما له غمه څومره ستونزو کې راګېره وي، د ځان په اړه مې هیڅ فکر نه کاوه، په همدې فکرونو کې مې یو تن خواته راغی او راته یې وویل اوس دې روغتیا څنګه ده؟، ما ورته وویل حسنا څه شوه او ولې یې له ما ځان پټ کړ. ما او د هغې خو یو بل سره ډېره مینه وه، داسې خو به نه وي، چې دا هر څه یو خوب و او زه پس له ډېرې مودې له دې خوبه راپاڅېدلی یم، تاسو څوک یې او ولې له ما داسې پوښتنې کوئ، دا چېرکټ او تعمیر کوم ځای دی، زه اوس چېرته یم.

په دې کې یو ځوان، چې له عمره کشر ښکارېده تر څنګ یې تمانچه هم اچولې وه رانژدې شو، راته یې وویل دلته داکیسې ډېرې سختې دي، تا باید داسې نه وی کړي، ما ورزیاته کړه، تاسو د مېلمنو سره همداسې چلند کوئ؟، هغه خو زما د دفتر همکاره ده او د دفتر لخوا زما سره د سفر په ماموریت ټاکل شوې، زما فکر نه وو، چې په دې کې هغه ځوان وویل، چې د رخصتۍ په ورځ هم تاسو رسمیات لرئ، عجیبه ده.

زه په خپل ځای راپاڅېدم، ناګهانه مې په پنډیو کې درد شو، لاسونه مې وښوځول، یو له بل سره یې یو ځای حرکت کاوه، پوه شوم، چې په لاس کې مې هتکړۍ او په پونډیو مې ښه وهل خوړلي او د بې هوشۍ په حالت کې یې نظامي روغتون ته راوستی یم.

ما د موبایل غوښتنه وکړه، هغوی ځواب راکړ، دا له موږ سره امانت دی، کله چې دې صحت ښه شو او دوسیه دې وتړل شوه بیا به هر څه درکړل شي، په همدې کې مې د حسنا پوښتنه وکړه، هغه چېرته ده او له کوم ځایه مو موږ راوستو، راته یې ځواب راکړ، چې خپل ځای کې ده، ما ورته

Made with Xodo PDF Reader and Editor



وویل دروغ وایې، هغه به له ما بد حالت کې وي خو کوم روغتون او یا ځارنوالۍ ته مو بوتلې. ځوان هلک مسکی شو او راته یې وویل ته مېلمه یې ستا د ډاډ له خاطره باید همدومره ووایم، چې هغې سره هیڅ نه دي شوي، همدلته ستا په انتظار ده، ما بیا د تیلیفون غوښتنه وکړه، چې زه غواړم ورته زنګ ووهم خو هغوي اجازه رانه کړه.

دا ځل مې فکر د ځان په اړه هم پیدا شو، چې د ماموریت مسئولیت او دا حالت به څرنګه هر څه سره توافق وکړي. هغه ځوان ته مې وویل، چې ګوره زه دلته د راتلو په دنده ګمارل شوی یم او دنده مې داده، چې دلته یو څه خیریه کارونه تر سره کړم تر څو دې ورووسته پاتې ولس لپاره خدمت وشي، ما کوم غلط نیت نه درلود خو یوازې د یوې تفریح په خاطر، چې خپله کاري ستړیا رفع کړم د دې سیمې طبعیت مطالعه کړم نو حسنا مې ددې مطالعې همکاره وه.

تاسې پرته له دې، چې له ما وپوښتئ دې حالت ته مو راوستم، لږ وخت به مو راکړی و، هغه راته زیاته کړه، چې په دې تړاو مو لا تر اوسه کار نه دی پیل کړی او که ته غواړې اوس هم وخت لرې او دې سره یې دا هم غبرګه کړه، چې موږ نه غواړو تاسو وځورو خپل اختیار مو په خپله غاړه دی لا هم څه نه دي شوي، بس یوازې تاسو دواړه د لږ وخت لپاره سره بیل شوي یاست او اوس به بېرته سره وګورئ. بیا مو چېرته زړه وي هلته لاړ شئ.

ما د اوبو غوښتنه وکړه او هغه ځوان، چې څارګر دنده یې په غاړه لرله په مسکا سره راته د اوبو بوتل راوړ، یو دوه غړپه مې تېر کړل، هغه لومړنی کس، چې په موټر کې ناست و او زما د موټر مخه یې نیولې وه او تر لاس یې هتکړی هم را اچولې وې وویل، چې زه له تا سره مرسته کولی شم او د ملګرتیا لاس یې را اوږد کړ، بیا یې وویل، دا بل ځوان ته پخپله رضا کړه، یو څه ورته ورکړه تر څو دا دوسیه همدلته وتړل شي، پرته له دې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



بله لار نه لرې، ما ورته ويل، تاسو بايد دمخه ماته ويلې واى ولې مو داسې حالت ته راوستم. په پنډيو مو ډېر وهلې يم هيڅ حركت نه شم كولى، بيا يې يو څه درمل راكړه او ديوې شيبې لپاره يې راته د ارام كولو وويل.

خو زه يو څه نا رامه وم دوا مې وخوړه او له چپركته راپورته شوم هغه ځوان مې ګوښه كړ او يو څه تحفه مې ورته په لاس كې كېښوده ورته مې زياته كړه، چې زه كوم غلط نيت نه لرم دا يواځې يو چكر و. چې حسنا مې ملتيا كوله. خو اوس بايد بېرته په خپله راغلې لار لاړ شم. ستاسو دا خاطره به تل ياد ساتم. هغوى راته زياته كړه، چې ته اوس ازاد يې، چې هر خوا ته ځې موږ دې هم په خدمت كې يو. لاړشه او خپلې چكرې دې ووهه. تيليفون مې راواخيست او خپله لاره مې ونيوله.

*********

له حوزې راووتلم، ورځ تېره وه، لمر د مازيګر پر لور كوږ ولاړ و. د هماغه سرک پر خوا روان شوم. حسنا د موټر تر څنګ ولاړه وه راغږ يې كړ، ولې دې دومره وخت تېر كړ، ټوله ورځ مې درته د سړک پرغاړه د انتظار شېبې شمارلې، هغوى خو ماته وويل، چې يواځې يو څو خبرې ورسره كوو. ته يې له لاسو تړلى وې، نور څه خوبه يې نه وي درته ويلي، ازار كړى خو به يې نه يې. زه پوه شوم، چې حسنا همدومره پوه شوى، چې زما لاس ته يې هتكړۍ واچولې او موټر ته يې پورته كړى يم او دا چې چېرته يې بوتلم او له ما سره څه شوي په دې نه ده پوهه.

ما ځان راقابو كړ او ورته مې وويل. نه ټوله مسله مې ورسره حل كړه، هغوي اوس په خپله موږ ته اجازه راكړه، چې هر چېرې مو خوښه وي لاړ شئ ستونزه نشته. حسنا بيا زياته كړه، پيسې يې درنه واخيستې. ما ورغبرګه كړه. چې ستونزه مې حل كړه كه هر څه و خو اوس بايد موږ لاړ شو خپل چكر څخه خوند واخلو او له دې سره مې بيا موټر ته په داسې حال كې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



حرکت ورکړ، چې له یو پلوه مې پښو درد کاوه، له بله پلوه مې زړه د مینې درد اخیستی و.

زموږ دواړو فکرونه نا انډوله شو، زما په ذهن کې تېره پېښه راګرځېده، له ځانه سره مې جنګ و، هیڅ فکري ارامتیا مې نه درلوده، ښایي حسنا هم په همدې فکر کې ډوبه وه، د هغې څېره کې معلومېده، چې د وخت جابر خزان یې د زړه باغ وهلی، نارامه ښکارېده. له شونډو یې مسکا الوتې وه، د فکر مارغه یې بې ځالې شوی و، تر ډېره په موټر کې خاموشه ناسته وه، تر یو ځایه ورسېدو، هلته یو پارک او چمن و حسنا را غږ کړ، چې دلته به لږ تم شو او فکر به هم ارام کړو. ما هم ورسره ومنله، له موټره ښکته شو او د پارک پر لور مو قدم وهل پیل کړه، اوس نو هر څوک راته اغیار ښکاري، د جنون او د جانان فلسفې مې په ذهن کې انګازې وهلې، د خوښیو لړۍ مې په فکرونو بدله شوه، له هر چا مې وېره کېده، چې خدای مه کړه زموږ پروړاندې کوم بل خنډ جوړ نه شي، په ډېر زړه نا زړه مو یو ساعت هلته تېر کړ، حسنا بیا د تېرې موضوع په اړه وپوښتل او راته یې کړه، چې ته ډېر خواشنی ښکارې هغوی ته خورولی یې، دا هرڅه زما له کبله وشول، زه هیڅ ځان نه شم بخښلې او له ځانه مې کرکه راځي، ما ددې لپاره، چې حسنا خپل ځان ارام احساس کړي ورزیاته کړه، چې اوس هغه موضوع تړل شوې او په اړه یې باید فکر ونه کړو، کومه پایله نه لري، بس یو دوه تنو نا اشناوو زموږ سلام یې وکړ له دې سره حسنا خبره راغبرګه کړه، چې هغه یو زما د خپلوانو څخه و، زه یې پېژنم. ما هم پېژني فولاد نومېږي خو زه ترې څه وېره نه لرم.

له دې سره مې په زړه کې بیا یو ټکان وخوړ او په زړه کې مې راتېر شو، حسنا تا باید دا خبره نه وی کړې، دا ټولنه یوه عنعنوي ټولنه ده، دلته ته څه خبره یې چې یو پردی، تور سرې سره یو ځای ګرځېدل څه مانا لري.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خو ما دا هر څه یوازې په زړه کې تېر کړل. خپل عاقبت ته مې هم لاړم. ګویا زما ماموریت پر یو داسې موضوع بدل نشي، چې پر سپینه جامه مې تور داغ پورې شي، ما یواځې مینه وکړه او د هغه چا زړه ته مې یوه شېبه خوشحالي ورکړه، چې له مودو راهیسې یې زړه د مینې تندې اخیستی و. ځان مې د خپل ضمیر پر وړاندې ملامته کړ. خپله کوټه مې را په زړه کړه، د حسنا فکر هم پرېشانه کړی وم، خو هیڅ مې نه شو کولی، غوښتل مې دا هر څه پټ کړم او یواځې حسنا ته ډاډ ورکړم. له هغې مې غوښتنه وکړه، چې راځه بېرته له دې ځایه لاړ شو. هغې هم ومنله او بېرته مو حرکت وکړ. لاره مو هماغسې په خاموشۍ ووهله. حسنا مې تر کوره ورسوله او له مخه ښې سره سم زه هم خپل ځای ته راغلم.

ماښام تیاره خوره شوه. له لمونځ کولو سره سم مې د ماښام ډوډۍ یو څه وخوړه، پر بستره مې ډډه ووهله. حسنا غم او خفګان لا نور هم پسې اخېستی وم. د هغې خبره مې ذهن کې تاوېدله. چې ویل یې هغه کس زما له خپلوانو څخه دی، ما یې د ماضي په اړه فکر نه کاوه، ولې د هغې راتلوونکي ژوند ته مې اندېښنه وه. په همدې فکر کې وم، چې تیلیفوني پیغام راغی، دا حسنا وه، زما سلام یې وکړ او ښې شپې هیله یې څرګنده کړه. ما هم ځواب ورکړ او د هغې د سلامتیا پوښتنه مې وکړه بیا مې زیاته کړه، چې فکر مې نارامه دی سکون مې نشته.

هغې هم ځواب راکړ، چې زه هم یو ډول بدل فکر اخیستې یم خو نه پوهېږم زړه مې نا قلاره دی، که هر څو هڅه کوم، چې خوشحاله شم خو بیا هم نه کېږي له ځانه سره وایم. کاش دا هر څه یو خوب لیده وي او بیا یې د افسوس اظهار لپاره د اسویلو کښلو پیغام راولېږه.

ما هم ورزیاته کړه، خدای دې وکړي، چې ستا خبره رښتیا وي او دا هر څه یو خوب وي، زه باید هیڅ دلته نه وی راغلی. هیڅ مې ستا حسن نه وی لیدلی، ته مې باید په زړه کې نه وی ننوتلې خو مینه د انسان په واک

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کې نه ده، هغې بیا راته ولیکل، هر څه سم و، سفرونه، کیسې ،لوبې او مینه، خو نن ورځ مو چې څه وکړل دا مو لویه تېروتنه وه. سبا به په ارام فکر بیا رسمي سفر ته تللی د خپلې مینې تنده به مو په لوبو او خبرو ماتولی.

ما ورزیاته کړه، حسنا خبره د نن ورځې په اړه نه ده او نه هم زه د نن ورځې په اړه خفه یم، هغه موضوع خلاصه شوه، بیا یې وویل، نو خبره د څه ده، ما هم ورغبرګه کړه ارمان، چې ما او تا نه وی لیدلي او زه هم دلته سفر باندې نه وی راغلی، هغې بیا ولیکل، د خدای لپاره داسې مه وایه، ستا په راتلو زه له زړه خوشحاله یم.

خبره مې بلې خواته بوتله او ورته مې کړه، چې ښایي راتلونکې څو ورځې به زما لپاره ډېرې ستونزمنې وي، ته څه پوهېږې، له کوره لرې او سېدل څومره سخت وي؟

هغې بېرته ځواب راکړ، چې ته څه پوهېږې، زه درسره څومره مینه لرم، ټول عمر به ستا په یاد او خاطرو کې تېره وم، ته زما لپاره ډېر مهم یې او زه له زړه درسره مینه لرم. ته زما لپاره مهما یې او بیا یې وپوښتل، چې کور پسې خفه شوی یې؟، خبر دی وزغمه یو څو ورځې دي خدای به یې تېرې کړي.

ما لکه د کوچني ماشوم په څېر له ځانه ګیلې پیل کړې او ورته مې ولیکل، چې زه مسافر یم، چاته خپل زړه حال ویلی نه شم، څنګه ځانته تسلي ورکړم، ما نه د کلي مازیګر، د دوستانو بنډار، ښکلې او تازه هوا، هغه د رنګونو ماښام، چې د سترې ژوند ټوله ستوماني له منځه وړي هغه دې ټول رانه اخیستي او یواځې ستا په فکر کې ډوب ډوب پروت یم، ته هم په خپل غم کې ډوبه یې، ستا په اړه مې هم زړه نارامه دی، بیا یې راته ولیکل، چې زما ځیګره، زه له تا سره یم، زه به تا خپله غېږه کې نیسم تا ته به ارام درکوم او دې سره یې بیا د افسوس اسویلي پیل کړل او زیاته یې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کړه، چې زه له خپل ژونده تنګه شوی یم، نه پوهېږم څه وو ایم. بس شپه دې په خېر او د خدای په امان.

ما خبرو ته ادامه ورکړه او ورته مې ولیکل، ولې خفه شوې، زه مخه ښه نه کوم ببرته یې راته ولیکل، هغه درد، چې زه یې لرم ته ته ته ته ته یې نشې درک کولی، ته زما د ژوند برخه ګرځېدلی یې، نه شم کولی بدلون ورکړم. ما هم ورزیاته کړه چې خیر زما په اړه اندېښنه مه کوه زه باید تا خوشحاله کړم، ستا خوشحالي راته له څه ډېره لومړیتوب لري. ته څه غواړې. هغې ولیکل. چې ما ته زړه مهم دی، ماته مینه راکړه. ما په غېږ کې ونیسه. د ژوند د ارمانونو نړۍ مې ودانه کړه او د خوشحالۍ کلا رانه تاو کړه.

ما هم ډاډ ورکړ او ورته مې کړه، چې زه هر څه زغمم. زما زړه له تاسره دی. هغې له ډېره درده همدومره ولیکل، «ښه ده» ما بیا ورته کړه، چې یوه ورځ به دې بیا په غېږ کې نیسم بیا یې راته ولیکل «ښه ده» ما ور اوږده کړه، چې ښکلوم دې، بیا یې ولیکل «سمه ده» بیا مې ورته ولیکل، له تا سره به لوبې کوم، هغې بیا وویل «اخ اخ» بیا مې ورته ولیکل ستا په زلفو کې به لاس وهم، هغې راته ولیکل، هر څه به وکړې خو اخر به څه کېږي په خپله مخه به لاړ شې. ما به یوازې پرېږدې. ما د شوخۍ په پار ولیکل. پارک ته دې وړم. هغې خبره رالنډه کړه، زما وروستۍ جمله همدا ده، چې بغیر له تا مې ژوند سخت دی او هیڅ ساه نه شم اخیستی.

د دې لپاره چې خبره د فکر له تاله وغورځوم ورزیاته مې کړه. زه خو اکسیجن نه یم. چې پرته له ما ساه نه شې اخیستی. هغې بیا ولیکل، زما لپاره هر څه یې، د شوخۍ مې یو څو خبرې نورې هم وکړې، خو هغې راته کړه:

درپسې درغلم

ما وویل، چېرته

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هوټل ته

زه په خندا شوم او ورته مې وويل، هوټل عمومي دروازه قلف ده.

هغې راته بيا وليکل، چې قلف ماتوم او د غلو په څېر دې خواته درځم

ما ورته وويل، د هوټل ساتوونکی به دې ونيسي

وويل يې د هيچا په غم کې نه يم

بيا مې ورته وويل، څارکر به راشي

ويل يې په غم کې يې نه يم

ما ورته د ورځې تېرې شوې کيسې په اړه وويل، چې ته غواړې بيا هماغه لوبه وشي.

هغې ويل، تر تا ورسېږم او په غېږ کې دې ونيسم نور د هيڅ شي غم نه لرم

بېرته يې کيسه د سبا ورځې رسمي سفر په اړه راتاو کړه او ويې پوښتل، سبا بيا سفر لرو ما ورته هو وويل او ډاډ مې ورکړ، چې بايد فکر دې ارام کړې، هغې زياته کړه، زما فکر ستا په اړه دی ته نه پوهېږې، چې کله يې له موټره ښکته کړې زه هم رانښکته شوم، کله دې چې ماته وکتل هيڅ مې ستا کتل له ياده نه وځي ما ځان ډېر ملامته احساس کړ، زما له امله تاته څومره ستونزه جوړه شوه، ستا کاته مې ډېر په خفګان تعبير کړه، پر ځان مې نفرت ووايه او تر اوسه په همدې حال کې يم.

ما ورزياته کړه، نه مې غوښتل، له داسې خلکو سره تا مخامخ کړم. هغې هم ځواب راکړ، ماته شرم و، چې ته يې بوتلې او ما هيڅ ونه شو کړی. ما بايد ويلې وای، چې ته مې په زور راوستی يې او اصلي مجرمه زه يم. ما هم ورته کړه، حسنا ته زما د کورنۍ په څېر ګرځېدلې يې، په زړه کې مې ځای لرې کله مو، چې موټر کې حرکت وکړ ما د يوې کورنۍ په فکر له تا سره يو ځای د چکر لپاره ملا وتړله، زه هم پښتون يم، او نه غواړم، چې زما پر نوم دې ديوې تور سرې پر وړاندې يو څوک ودرېږي او ستا پر ښکلې مخ د خفګان نښې رابر سېره کړي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



هغې بیا ولیکل، له تاسو پښتنو مې صدقه کړې او له تاسو پښتنو مې قربان کړې، ما ورزیاته کړه. حسنا له تا سره مې هر خطر ته غاړه ایښې، له هر غره به واوړم تر څو تر تا ځان ورسوم. بیا هغې وویل، زه به ځنګه ارامه وی، باید مړه شوې وی، خو ته باید د هغوی لاس ته نه وی ورغلی.

په همدې خبرو کې مې د هغې تسلی لپاره خپل ځان د قانون پر وړاندې ملامت کړ، ګویا موږ ښه کار نه دی کړی، په وروستي ځل، مې ساعت ته فکر شو شپه ډېره ناوخته شوې وه. فکر مې وکړ. چې سبا بیا سفر لرم او ښایي دا سفر مو له نورو سفرونو لا پسې اوږد وي، له هغې سره مې مخه ښه وکړه او زیاته مې کړه، نورې خبرې به سبا کو. تیلیفون مې بند کړ او پر خپله بستره مې سر کېښود.

*********

د شپې یې بیا پیغام راغی، لیکلي یې و، سلام شپه دې په خېر زما ژونده، زه بې له تا ژوند نشم کولی، نه پوهېږم، په ما څه شوي، لیونی شوی یم. بې له تا مړه کېږم. د خوب بوډۍ مې رانه تښتېدلې. د خدای لپاره یو څه ووایه څو مې زړه قلار شي. زما هم فکر پر ځای نه و، نه پوهېږم، څه به مې ورته ویلې وي، هغې بیا د سفر په اړه وپوښتل، چې که سبا لږ ناوخته لاړ شو زه به هم وکولی شم له تاسو سره لاړه شم. زه له اوس نه تیاری نیسم. ډېر د وخته کورنۍ اجازه نه راکوي.

ما غوښتل دا سفر مې ځانته وکړم تر څو مې فکر لږ بدل شي، د هغې پیغام په خواب کې مې ورته وویل، له دفتره پوښتنه وکړه خو زه سهار د لمونځ څخه وروسته باید ساحې ته حرکت وکړم څو په وخت ورسېږم، دلته د لارو ډېرې ستونزې دي په ساعتونو ساعتونو غزېدلي

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ګرځېدونکې سرکونه د انسان ساه خپه کوي، خو ته خپل ځان ډاډه او د خوب لپاره وخت ځانګړی کړه بیا به سبا خبرې کوو.

سبا موټروان د لمانځه پر مهال د هوټل دروازې ته راورسید. ما هم ځان تیار کړی و حرکت مو پیل کړ، موټروان د حسنا د کور پر لور روان شو. ما ورغږ کړ، چې هغه له موږ سره نه ځي. موټر چلوونکي بخښنه وغوښته او بېرته راستون شو. د سفر بل ملګری، چې له موږ سره په هر سفر کې یو ځای و له ځانه سره مو واخیست. هغه پوښتنه وکړه، حسنا مو راوانه خیسته؟ ما ورته کړه، هغه له موږ سره نه ځي. هغه هم هو وویل او د خپل منزل پر لور مو لار ونیوه. شېبه نه وه تېره، تیلیفون زنګ راغی، حسنا اول سلام وکړ او بیا یې غوښتنه وکړه، که تاسو ډېر نه یې تللي زه هم درسره ځم. ما یو څه ځان ګوښه ونیوه او اختیار مې بل ملګري ته ورکړ څو له هغه سره خبرې وکړي. هغه یې عذر ومانه او بېرته له لارې راستانه شو، د حسنا تر کوره راغلو او له ځان سره مو واخیسته.

حسنا ځان ډېر سینګار کړی و، د بدن خوشبوۍ یې ټول موټر نیوه، د هغې ټوله هڅه د موضوع پیدا کول و تر څو پرې خبرې وکړو. هغې د طوطي په څېر بیا خبرې پیل کړې او د سفر خاموشي یې ماته کړه. له مایې وپوښتل، ته زما په نه تللو خفه وې، ما هم د زړه حال ورته په هو وویل، ورته مې ویل یوازې تنګېږم، له تاسره مې سفر په خوشحالۍ تېرېږي او بیا یې زیاته کړه، چې ما هم نه شو کولی پرته له تا پاتې شم او په څېره کې یې بیا خفګان غوټې ووهلې ویې ویل، بې له تا مړه کېږم، په تا کې جادو او طلسم دی زه بې له تا هیڅ ارام نه شم احساسولی.

زما لاس یې ونیوه، زور یې کړ او د خپل زړه ټول احساساتو کنایه یې بیان کړه، تر خپلې سینې پورې یې کلک کړ او د زړه بې پایله حرکتونه یې راته څرګند کړه. په لاره کې د سهار چای لپاره د یو کوچني سیند پر غاړه دمه شو، د ځان تازه کولو په پار سیند اوبو ته ورختنه شوم، حسنا هم

Made with Xodo PDF Reader and Editor



د سیند غاړې ته راغله. د مینې کیسې مو پیل کړې، هغې د سیند له اوبو لپه ډکه کړه. زما پر مخ یې راوشیندلې. ما هم ورته عمل اجرا کړ. حسنا له خندا شنه شوه، د مینې احساسات یې نور هم راوپارېدل. د سهار تازه هوا هغه نوره هم ښکلې کړې وه. د مخ غومبري یې سره اوښتي وو، په سپین مخ کې سره غومبري د دنګ غره پر سر په واورو کې د نښترو اور په څېر ځلېده. له خندا سره یې غاښونو سپن پرق کاوه. هغې بیا له اوبو لپه ډکه کړه او زما پر مخ یې را واچوله او بیا یې وویل ته ډېر خوږ یې. ته ډېر متفاوت یې، پوهېږم. چې ستا د ژوند خوږوالی زما له قسمته ډېر لرې دی. خو زه به ستا په یاد د ژوند دا هره لحظه یادوم. له دې سره د سهار چای تیار شو، سهارنی مو وکړه او د سفر پر لور مو حرکت پیل کړ.

په لاره کې له دنګو غرونو او نریو لارو ورتېرېدو. له موږ سره څلور سیټه کمک دار فلاینکوچ موټر و، د غرونو په تنګیو کې یې د باز په څېر د لارو کږلېچونه تاوول. د یخې او ګرمې هوا سیستم یې ښه فعال و، د موسیقۍ لپاره یې د هرې چوکۍ له پاسه غټې غټې لاوډ سپیکرې نصب وې، د غرونو په دې تنګو لارو کې د دې سیمې خلکو تل همدا ډول موټر کاروه، خو زموږ موټر یو څه نوي او ډېر ثابت و. ډېرې نورې ځانګړنې یې هم لرلې. پاسته او پراخه سیټونو یې مسافرو ته د سفر خوند لا پسې زیاتاوه. د سفر پر لاره ځای ځای د غوزانو ونې زموږ د موټر پر شیشو لږېدلې، حسنا به په روان موټر کې د غوزانو له ونو ځانګې شکولې، یو وار یې له ما وغوښتل. چې باید ورسره شرط ووهم، چې څوک به پر روان موټر کې له ونو غټه ځانګه شکوي. هغې څو وارې هڅه وکړه خو یو اخې یو څو پاڼې یې وشکولې. زه هم ضد ونیولم او د خپلې مینې پر وړاندې مې غوښتل دا شرط تر لاسه کړم. په لومړي وار مې په ټول توان سره د پانو اوږده خرانګه د ونې له منډوکي را وشکوله. هغې را څخه واخیسته او د

Made with Xodo PDF Reader and Editor



خپلې چوکۍ پورته برخه کې یې د شیشې له پاسه راوځړوله او زیاته یې کړه، چې دا به دلته ستا یوه نښه وي.

په لار کې مو بلا ډېرې کیسې وکړې تر ماسپښین مو ځان تر ساحې ورساوه، خپل ماموریت مو بشپړ کړ، یو هوټل کې مو د غرمې خواړه راوغوښته. ما تل د هغې د ذوق سره سم هماغه خواړه راغوښتل، چې حسنا به خوښېدل، خو دا ځل حسنا فرمایش داو، چې زه باید یو څه راوغواړم او هغه بل، تر څو دواړه یې سره شریک کړو. موږ هم ډېر عجیب و، د خلکو به منځ کې به زه او حسنا یو ځای کېناستو، کټ مټ د وړوکوالي ملګرو په څېر او هیڅ ډول وېره به مو نه احساسوله، د هغې فرمایش ښوروا وه او زما په چرګ کې پخې شوې وریژې، هغې ماته ښوروا کې ډوډۍ ماته کړه او ما هم خپل خواړه ورسره شریک کړل.

د سفر په بېرته راتلو کې مو یو څه خنډ وکړ، له ډېرو کارونو له امله مو ونه شو کړی پر وخت حرکت وکړو، په ساحه کې مو د کلي ملکانو، سپین ږیرو او ماشومانو سره لیده کاته وکړه، له ساحې څخه مو انځورونه واخیستل خپل ماموریت مو بشپړاوه، حسنا په منډه را روانه وه، د یو ماشوم ګوته یې په پړونې کلکه نیولې وه، زه وارخطا شوم، حسنا ماشوم ته تسلي ورکوله، خو پام مې شو، چې ماشوم کومې زهرجنې حشرې چیچلی دی، ما له یو عابد څخه د مچیو او نورو زهرجنو حشراتو چیچلو دم اخیستی و، نو سمدستي مې پرې چف کړ، دم لا خلاص نه و، ماشوم ژړا د خدای په فضل قلاره شوه، بېرته ترې روان شوم خو یو څه استغفار او کلیمې مې وویلې او د ماشوم د سلامتیا دعا مې وکړه، په بېرته راتلو کې حسنا حیران حیران راکتل او ویې ویل، تا هغه ماشوم سره څه وکړل، ته ربنتیا هم یوه معجزه یې، څنګه زر یې درد قلار شو، ښایي ته خدای ته ډېر نژدې بنده یې ستا سوال قبلېږي او بیا یې زیاته کړه، چې زما او ستا د ژوند سوال به څنګه قبول شي.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



زه یو څه په فکر کې پرېوتم، چې حسنا ته باید څه ځواب ورکړم، دا د ژوند مسله وه او زما پرېکړه به په دې مسافرت کې سمه وي که نه.آیا حسنا سره په مینه کې د ژوند پرېکړه به تر منزله ورسېږي او که، زه په دوه لارو کې راګېر وم، یو پلو مې د مینې لاره او له بله پلوه د کورنۍ څخه څو میله لرې، تر سخت فشار لاندې راغلم، فکر مې وکړ، چې زموږ دا اوسنۍ حالت څومره زموږ راتلونکي ژوند پورې تړاو لري او که یواځې د سفر ملګرتیا ده، زموږ د مینې قوه زموږ پر ژوند څومره بر لاسې ده، ډېره سخته پرېکړه وه، یو لوري ته د حسنا او زما تر منځ مینه، د حسنا ځواني او ښکلا او زما د زړه مجبوریت و خو د بلې خوا زه یو مسافر وم لا مې د دوې د فرهنګ په اړه ژوره مطالعه نه وه کړې، د مذهبي توپیر هم راسره کومه پوښتنه نه وه، ځکه چې یو ورځ ما ته حسنا ویلي وو، چې زه ستاسو مذهب ته راځم، تر دې چې ویل یې پښتو به زده کوم او د پښتنو ژوند مې خوښېږي. زه په همدې فکر کې غرق وم، حسنا را غږ کړ، بېرته حرکت کوو.

بېرته مو په وچو غرونو کې سفر پیل کړ، حسنا، چې له اوله زما پر لېدو تر تاثیر لاندې راغلې وه، که هغه د خپلې مینې له امله، یا هم زه د هغوی د یو مسئول په توګه په دنده ګمارل شوی وم، چې له مرکزه د هغوی کار د نظارت په موخه ټللی وم او یا زما حرکات په عقیدوي ډول له دوی څخه لېرې وو، خو زه ورته د یوې معجزې په څېر ښکارېدم او یا هم د هغې د زړه احساس و، چې په یو ناپیونده توګه له ماسره تړل شوی و خو پر حسنا یې ډېر تاثیر کړی و، ما تل د هغې د سلامتیا دعا کوله، که څه هم هغه د بل مذهب وه خو زما په زړه کې یې ځانګړی ځای لاره.

ما ورسره له زړه نه ډېره مینه لرله، ماته به یې تل ویل، زه ستاسو په عقیده ډېر باور لرم او غواړم پاتې عمر مې ستاسو په عقیده کې تېر کړم. یوه ورځ مې ترې وپوښتل، ایا د سهار لمونځ دې کړی؟، هغې په ډېر غرور د هو ځواب راکړ ، زما تل داتلوسه وه، چې د دوي مذهبي کړنو

Made with Xodo PDF Reader and Editor



په اړه یو څه معلومات تر لاسه کړم. پوښتنه مې ترې وکړه، څنګه دې وکړ، هغې څواب راکړ، دوه رکعته واجب مې وکړ. ما ورته وخندل او ومې ویل، د اختر لمونځ خو له لمر ختلو ورسته کېږي، خو هغه پوهه نه شوه. ما هم ګونګه پرېښوده، سره له دومره عقیدوي توپیره هم حسنا زما د زړه په کور حمله کړې وه. له هغې پرته راته ځان د یویتیم په څېر ښکارېده، ټوله دنیا راته بې څوکه ښکارېده. خو د هغې په لېدلو به مې یو ډول سکون او ارام احساساوه.

ما به هر وخت هغې ته ویل، چې ته ډېره جذابه یې ښایې هر څوک، چې تا ګوري زما په څېر به ګمان کوي، خو زه بختور یم. چې له تا سره مې یو څه وخت په ګډه تېر کړ، ستا له ښکلا سره مې مشغولتیا وکړه. ستا له خبرو مې خوند واخیست، ته مې په خپله غېږه کې ونیوې. ستا له امله مې له ټول طبعیت سره مینه پیدا شوه. ما ته دې په زړه کې ځای راکړ. ته زما لپاره د ژوند یوه خاطره یې، زما د مینې څواک دې راوېښ کړ، زه غواړم، چې دغه څواک مې ستا د مینې په چوپړ کې تېر کړم. د ژوند هره لحظه مې د یوې خاطرې په څېر تر ابده وساتم او ددې وخت یادونه پرې تازه کړم.

په همدې خبرو کې مو یو څه لار وهلې وه. خو لا هم ډېره لار پاتې وه. شپه ډېره تیاره شوې وه. په موټر کې هم ستړي شو. د هغې سره مشغولتیا هم بلا خوند راکاوه. زما توان هم کمزوری شوی و او هغه هم لکه حالاتو طوفان وهلې مرغۍ په څېر بې سده شوې وه. په موټر کې خوب نیولې وه او پر چوکۍ اوږده پرېوته. زه هم وغزېدم. خو یو وخت مې حس کړه. چې له چوکۍ څخه یې لاس راوږد کړی او زما په سر کې یې لاس واهه. ما به هم کله کله د هغې لاس راتاو کړ او تر خپلې سینې به مې جوښت ونیوه. شپه له نیمې تېره وه. تر خپل ځایه ورسېدو. حسنا مو تر کور ورسوله او زه له موټروان سره خپل ځای ته راغلم.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



سبا ورځ مې دفتر له ملګرو سره په د هغوي ورځنيو چارو په اړه تېره کړه، هر يوه د خپلو چارو په اړه راپور وړاندې کاوه. د راتلونکي لپاره مو پر نويو مهال ويشونو کار کاوه، ټولې چارې مې د راکړل شوې دندې سره سمې سمبال کړې. د فکر ډېره برخه مې د حسنا په اړه وه، هغه هم د ورکړل شوې دندې لپاره په ساحه کې بوخته وه، کرۍ ورځ يې په خپلو چارو کې تېره کړه، رسمي وخت مو پای ته ورسېد خو هغه دفتر ته رانغله، يو ځل يې راته پيغام راولېږه، چې زه له ساحې څخه رانژدې شوې يم تاسو په دفتر کې يې، ما هم ځواب ورکړ، چې ټوله ورځ دې په تمه وم خو رانغلې، ورځ مو تېره شوه خو ومو نه ليدل، دا ورځ به زه په توره ورځ نوموم، ولې چې ستا دېدن مې ونه شو کړی، ته مې د ژوند د تيارو رڼا يې، هغې د افسوس په پار بيا خپل اسويلي په پيغام کې رالېږل، ماښام شو پيغام يې راغی او ليکلي يې و، زه ډېره ستړې يم کور ته ځم لږه دمه جوړوم، ما هم ورسره ومنله بيا يې په پيغام کې يو څو انځورونه راولېږل، د انځورونو په کتلو سره مې له سترګو اوښکې لاړې، هغې ښکلا مې د سترګو انځور ګرځېدلی و، هر څه راته د هغې د ښکلا ګواهي راکوله، ما سره يې د ويلو هيڅ الفاظ نه وو، بس همدومره مې ورته وليکل، چې زما زړه مه ځوروه. ما غوښتل نن ورځ دې په غېږ کې ونيسم، ستا د خوښې اوښکې مې هيڅ نه هېرېږي او بيا مې خپل د موبايل البم را خلاص کړ او يو څو انځورونه مې ورته ولېږل. په همدې حال کې بل پيغام راغی، ليکل يې وو، چې هيڅ خوښي راته نه ده پاتې تل، چې وغواړم خوشحاله شم بيا يوه ستونزه راته پيدا کېږي، نه پوهېږم ولې؟.

ما ورته يو بل انځور ولېږه، په يو انځور کې مې بې اختياره مسکا له خولې وتلې وه، هغه مې ورته ډالۍ کړ، هغې د انځور په ليدلو راته (اخ اخ اخ) وليکل. زما ژونده صدقه دې شم، زه ستا لپاره مړه کېږم ته راته د يو خوب په څېر پاتې يې، نه پوهېږم هر څه ښه و ولې خراب شو.

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شپه تېره شوه، په سبا مې د دفتر ټولو کارمندانو سره، چې حسنا هم وه مجلس واخیست او د خپل سفر ټول ټکي، چې باید تر کار لاندې ونیول شي ورسره شریک کړل. حسنا لکه خزان وهلې ونه زېړه پر خپل ځای ناسته وه. له خولې یې هیڅ خبره نه خلته، ما هم خپل مجلس په بېړه پای ته ورساوه. ځان لپاره مې موټر راغوښتی و. خو حسنا سره مې پرېکړه کړې وه، چې زه کله هم بېرته ځم باید تا ونه ګورم. کیدای شي حالت مې خراب شي او ټولو ملګرو پر ورانده به ډېر پاتې او ملامت شم. خو نن هغه تر ټولو دمخه راغلې وه. د مجلس په پای کې مې کارمندانو ته بهانه وکړه، چې زه لږ د باندې ځم بیا به د ورځې په اوږدو کې سره وګورو.

*********

له دفتره راوتلم. یو څه ملګري مې پوه و، چې زه بېرته نه راګرځم، هغوی راسره یو څه لاره بدرګه کړه او مخه ښه مو وکړه. پر سر مې څادر راخپور کړ او د موټر مخکې چوکۍ کې د موټروان تر څنګ مې ځان تکیه کړ. له هغه ځایه مې پوره مزل کړی و، هر څو مې ځان بوخت ساته څه پایله یې نه درلوده. حسنا ته مې هم زنګ ونه شو وهلی. بېرته راتګ را ته ډېر سخت و. ما په لومړي ځل د یو چا سره د زړه مینه وکړه. د خپلې سیمې وراخوا د هسکو غرونو ورواوختم. زړه مې په نا اشنا فرهنګ کې وتاړه. په داسې سیمه کې چې هیڅ ژبنی او مذهبي تړاو مو سره نه لاره. ورو ورو مې روغتیایي حالت هم خرابېده. د لارې ستړیا هم له تابه ویستی وم. د بدن حرارت مې لوړ شو. سرې تبې ونیولم او له تبې سره را باندې د یخنۍ څپه راغله. بدن مې ولړزید. موټروان هم وارخطا شو. د موټر بخاری یې روښانه کړه. هیڅ مې تبه نه سړېده. درمل هم راسره نه و، چې خوړلې مې وای. موټروان موټر ګوښه کړ. زه یې د لاسه ونیولم. خپل څادر یې رانه تاو کړ. تیلیفون هم تر یو وخته کار نه کاوه. خپل خالق ته مې لاسونه لپه کړل

Made with Xodo PDF Reader and Editor



او د صحت سلامتیا دعا مې وکړه، یوه شېبه د موټر تر خوا ناست وم، یواځې غرونه او خړ سړک و . چې د موټروان سره یې زما د حالت تماشه کوله، بېرته موټر ته پورته شوم او موټروان ته مې اشاره وکړه، چې حرکت کوو ، له حسنا څخه بېلېدلو ډېر ځورولم او هغه مې هم د خپلې مینې په جال کې راګېره کړې وه، خو اوس یې راته بېلتون ډېر سخت و ، د خپل مسیر پر لور مې خاموش مزل پیل کړ، د راتلو له ورځې تر بېرته تلو مې ټول حالت یواځې یوه خاطره پاتې شوه، تر یو ځای مو مزل کړی پام مې شو ، پیغام راغلی و ، حسنا سلام رالېږلی و او لیکلي یې و:

لاړې، زه دې ځانته پرېښودم

زه بیا د یو ورته حالت سره مخ شوم په لاسونو کې مې تاب نه و ، چې بېرته ځواب ولیکم، یوه شېبه همدې پیغام ته په فکر کې وم، چې موټر د یوې ساده هټۍ سره تم شو ، زما لپاره یې یو څه خواړه او څښاک راواخیستل، یواځې دوه کپه مې له پاسته کیکه وخواړه او انرجي څښاک مې په سر راواړه وله، یو څه مې حالت ښه شو ، تیلیفون مې راپوته کړ او په انګلیسي ژبه مې همدومره ورته ولیکل، چې د اوس لپاره دې پر مخه ښه، هیله ده، بیا سره وګورو. تیلیفون مې کېښود، بېرته یې راته پیغام راولېږه، ولې داسې لاړې! ، زما زړه دې په اور وسوزاوه، نه شم کولی نور څه ولیکم حالت مې خرابېږي، هیڅ ځان نه شم سمبالولی، او بیا د اوففففف په لیکلو اسویلي پیل کړه، ورپسې د پیغامونه لړی یو څه اوږده کړه او راته یې ولیکل، د ژوند بدترینه ورځ مې نن ده خو له دې سره په لاره کې انټن هم پرې شو.

ټوله ورځ مې موټر کې مزل وکړ ځای ځای، چې به موبایل انټن کار کاوه د حسنا سره به مې یو څه خبرې کولې، ما به ورته تسلي ورکوله، خو هغې به بیا د افسوس چغې وهلې بیا به مو اړیکه پرې شوه، پوهـ وم، چې وضعیت یې ښه نه دی، هغه هم د تقدیر په کرښو خپل تدبیر ته حیرانه وه،

Made with Xodo PDF Reader and Editor



له خپل ځانه يې ګيله کېدله، بې سرنوشته تقدير سره مخ وه، زه هم په ورته حالت کې وم، شپه مې يو هوټل ته راوړه، لږ مې ځان ارام کړ، انټرنيټ مې فعال وصل کړ او له ډوډۍ وروسته مې پر بستره سرکېښود، هيڅ د لارې پر ستړتيا نه وم پوه شوی، د هغې زنګ راغی ډېره خواشيني معلومېده، هغه په غشي ويشتلې هوسۍ په څېر وه، نه يې رغېدل و او نه يې مړه کېدل، په خبرو کې سلګيو ونيوله په چيغو چيغو يې ژړل، اړيکه يې پرې کړه، وروسته يې پيغام راولېږه، چې حالت مې ښه نه دی، نه شم کولی تا سره خبرې وکړم، بيا يې بل پيغام راغی ليکلي و، يو شې درته ووايم، چې نن مې د ژوند تر ټولو بدترينه ورځ وه، ډېره خفه شوم، ومې ويل، ارمان دی، چې ته هيڅ راغلی نه وی، نه مې وی ليدلی، ټولې خبرې دې، ټول حرکات دې هره لحظه زما تر سترګو ته کېږي، د زړه نه درپسې خفه يم، وايم دا هر څه يو خوب ليده و، ماته د خوب په څېر پاتې شو، بيا له ځانه سره فکر وکړم، ارمان، نن هغه اوله ورځ وی، چې ته راغلی وې، دا زما د ژوند لومړی تجربه وه اوفففففف زما ځيګره، زما ځانه څه درته ووايم هر څه چې وايم بيا هم کم دي.

ما تيليفوني اړيکه پرېکړه، د هغې سره مې د خبرو توان نه لاره، پيغام مې ورته ولېږه، ورته مې وليکل، ته زما لپاره نادره تشبيه يې، هيڅ دې نه شم بيانولی او هغې په خواب کې راته وليکل، چې زما ځانه قربان دې شم، ما ورزياته کړه، زما اوستا تر منځ داسې څه و، چې ټول فکر مو يو متغير حالت خواته لاړ، هر څوک په ژوند کې هر چېرته دوستان لري، خو ته تر ټولو ډېره متفاوته يې، زه به تر څو خپل زړه ته قلار ورکوم، يوه لاره راته وښايه، هسې نه ژوند مې له لاسه ورکړم.

بيا يې زما د تسلي لپاره وکښل، چې ځان قوی کړه، وزغمه، ته بايد خفه نه شې تل بايد خوشحاله اوسې، زمونږ دواړه حالته سره ورته وو، کله به چې هغه بې تابه وه نو ما به ورته تسلي ورکوله او کله به چې زه په

Made with Xodo PDF Reader and Editor



ډېر بد حالت کې وم بیا به هغې تسلي راکوله. زموږ تر منځ یو عجیب تړاو رامنځته شوی و. په وروستي پیغام کې یې راته یوه ایرانۍ سندره، چې مطلع یې داسې وه راولېږله:

*از دریا نترسانم که من در قلب تو و جان میدهم*

*دریا بشی زیبای من غرق نگاهت میشوم*

*مغرور نشو جانان من حالا که دل در دست توست*

*من که به تو رو میزنم تنها به شوق دیدن تو...*

*دیوانه مرا به دست کی سپردی دیوانه رفتی مرا با خود نبردی*

*دیوانه مرا به دست کی سپردی دیوانه رفتی مرا با خود نبردی*

شپه له نیمې هم تېره وه، د هغې سندرې په اورېدو مې بیا وضعیت خراب شو، هر څو مې ځان ته تسلي ورکوله خو نه کېده او وار وار مې له سترګو اوښکې راتلې، خوب مې ورک شو، ډېره هڅه مې وکړه، چې ځان راحت کړم خو بیا هم نه کېده، کمپله مې راکش کړه، په بل اړخ واوختم، بس زه وم او زما اوښکې.

د شپې له یوې بجې وروسته بیا پیغام راغی لیکلي یې وو ګرانه ویښ یې، ما هم سمدستي د هو ځواب ورکړ، هغې اول بخښنه وغوښته، چې د شپې په اوله برخه کې یې انترنت سم کار نه کاوه، بیا یې ویل ته لا تر اوسه ویښ یې، ډېر سفر دې هم کړی ستړی به یې.

ما ورته کړه، حسنا خوب مې نه وړي، دلته ستا نرمو لاسونو مرحم نشته، چې زه پرې خپله ستړیا وباسم. ستا وربښمینه غېږه نه ده، چې د بنګو نشه مې کړي او ارام ویده شم. ستا د شونډو حرارت نشته، چې زما یخني توده کړي او زه پرې د ارام ساه واخلم. هغې بیا اسویلي پیل کړه، د هغې د ساه غږونه مې اورېدل او ویل یې، چې داسې مه وایه، هسې نه ستا په خبرو کې مې له تنه ساه ووځي، زه باید ستا د خوب راوستلو لپاره یو څه وکړم څو ته ویده شې، ما ورته د هغې سندرې په اړه وویل، چې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



پیغام کې یې رالیږلې وه او زیاته مې کړه. باید ته مې را تېښتولې وی، هغه کړسنده خندا راولېږله او هغه د چکر ورځې یادونه یې را یاد کړه.

بیا یې زیاته کړه، چې یوه پوښتنه وکړم ما ورته وویل، زر پوښتنې وکړه، زه به یې ځواب وایم او دې سره یې ولیکل. ته ولې دومره خوږ وې، څه خورې، چې خوږ شوی یې. باور وکړه. زه دې وژلې یم. ما ورته وکښل، چې ما مه خوروه، هغې بیا وویل، نه زما ځیګره زه رښتیا وایم، ما ورته کړه، باید اوس ستا په غېږ کې وی، په اسویلو یې وویل، زه ستا وږې یم زما له خولې بې اختیاره ووتل. حسنا ته چېرته پاتې شوې. هغې ولیکل، ستا په غېږ کې یم، تا ته ډېره نږدې یم، ته زما په غېږ کې ویده شه، زه به در ته پالنه درکوم. تاته للو للو وایم ته خوب وکړه.

ما ورته ولیکل، چې دا دروغ دي، ته ما ته دوکه راکوې، دلته نه یې، زما غېږه خو خالي ده، هغې بیا ځواب راکړ، چې ستا د وېښتانو بوی مې لیونۍ کوي، ستا عطر احساسوم، زما ژونده وېده شه، دا مې وعده ده، چې ډېر ژر به در پسې درشم، هغې بیا ولیکل، ته ولې دومره متفاوت یې، ما ورته ځواب ورکړ، چې زه د ځان لپاره یو مصیبت یم، زړه مې د غرونو تر شا پرېښود او زه راغلم. بیا په یو سوړ اسویلي وویل، څه کولی شو، زما او ستا راتلونکې لاره په څه وي تر څو له یو بل سره یو ځای واوسو، تر تا د رسېدو به یوه چاره کوم زه بې له تا ژوند نه شم کولی.

*********

څه شپې ورځې تېرېدلې، زموږ اړیکه هم ورځ تر بلې کمېدله او پیغامونه مو هم ورو ورو کمېدل. په ټوله ورځ کې به دوه یا درې پیغامونه سره ولیږل راولیږل، یوازې سلام او شپه په خیر به مو ویل. ما هم خپل زړه ته ډاډ ورکاوه، چې زما او د هغې اړیکه ډېره ستونزمنه ده. موږ عقیدوي اختلاف لرو، تر منځ مو ډېر واټن دی، خو بیا هم زړه به مې نه قرارېده، هره

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شپه به مې د هغې د هېرولو وعده کوله، خو سهار، چې به راپاڅېدم تر هر څه زيات به مې د هغې مينه په زړه کې راګرځېده. له حسنا سره د ژوند هره لحظه به مې بيا بيا سترګو ته درېده، هروخت به مې د هغې څېره تر سترګو کېده. هغه راته د يوې مظلومې په څېر ښکارېده، چې ټول عمر له مينې او خوښۍ محرومه پاتې وه. تل به مې د هغې د خوښۍ او سلامتيا دعا کوله. د هغې ارمانونو پوره کولو لپاره به مې خير خيرات ورکاوه. خپله فيصله مې تقدير ته سپارلې وه، يو څه موده تېره شوه، هېڅ پيغام رانغی. له ملګرو مې وپوښتل، حسنا په څه حالت کې ده، هغوی کله ويل، چې ښه ده او کله به يې ځان نا خبره واچوه. خو يوه ورځ مې زړه راته يو څه ګواهي راکوله، چې کومه پېښه شوې. ډېر نارامه وم، زړه مې په وار وار درېدو او د حسنا څېره به مې سترګو ته کېدله، د هغې تيليفون بند وو. ملګرو ته مې زنګ وواهه، کله مې چې د حسنا پوښتنه وکړه، ملګری مې يو شېبه خاموشه و، زما هم فکر خراب شو، په قهر شوم، چې ولې ځواب نه راکوی، هغه راته په ډېر مړژاوندي غږ کې وويل، حسنا په مرکزي روغتون کې بستره ده او د زړه حمله پرې راغلې، له لاسه مې تيليفون وغورزېد، په ځان پوه نه شوم، بې سده شوم، په سر مې درد راغی، له ډېره درده مې پر بدن لړزه راغله. د هغې ټولې خاطرې مې ذهن کې اوړېدې را اوړېدې، په رنځور ځان مې اودس وکړ او پر جای نماز مې خدای ته لاسونه لپه کړل، د هغې د روغتيا دعا مې وکړه، پوره شېبه مې د هغې د روغتيا لپاره لاسونه پورته کړي و، دا عمل مې څو ورځې تکرار کړ.

بيا هم شپې ورځې تېرېدلې، کله کله به موږ په تيليفون خبرې کولې، زما او د هغې د بيلتون ډېر وخت تېر شو، د شپې لخوا به مې ورسره اړيکه نيوله، هغه اوس له رنځه رغېدلې وه.

له ډېر وخت وروسته مې بيا د هغې پر لور سفر وکړ، له سفر وړاندې به مو يو بل ته خپل حال احوال ورکاوه، هغه زما راتللو ته ډېره

Made with Xodo PDF Reader and Editor



لېوالېږ، ولې خبره نه ده، که د هغې شکلونه مې نه دي لېدلي، هغه وخت خو هغه ډېرې پاکې او سپېڅلې وې، هغه لګیا وه او ویل به یې ستا تږلې خاطرې مې په زړه کې ساتلې دي، هیڅ مې نه هېرېږي، هغه ځای، چې زه او ته په یوه خونه کې ناست و. هغه راته د یو زیارت په څېر ګرځېدلی، هر وخت په کې ستا یادونه تازه کوم.

زه په داسې حال کې یو ځل بیا د هغې ښکلا ګورم، چې د ځوانۍ سپرلی یې تېر کړی و. اوس یې خزان د ژوند پاڼې مړاوې کړې وې. زما د لېدو سره یې بیا له سترګو اوښکې راغلې او زیاته یې کړه، چې د ژوند ارخ بدل شوی، د ښکلا باغ مې د نصیب مالیار ته په واک کې ورکړی، خو ستا لپاره اوس هم په زړه کې خاص ځای لرم او دې سره یې خپل سر زما سینې پورې کلک ونیوه. ډوبې سلګۍ یې وکړې، ما ډاډ ورکړ، چې ژوند د تحول په حال کې دی، د قسمتونو مالک ستر خالق دی، ستا ملګرتیا به جنت کې غوارم، دا نړۍ خو هسې هم فاني ده، زما او ستا نصیبونو ښايي زموږ د ښېګڼې پرېکړه کړې وي، د اړیکو پرېکولو سره مینه له منځه نه ځي او دې سره مې خپل دواړه موبایلونه د مېز له سره راپورته کړه، له خونې راوتلم، څادر مې له غاړې راتاو کړ، نور مې هیڅ ونه ویل او په خپله مخه روان شوم، په وروستي پیغام کې مې ورته همدومره ولیکل، چې نوی ژوند دې د خوښیو ډک شه.

*********

ځینې مینې دومره پاکې او سپېڅلې وي، چې انسان یې له ځانه هم پټوي تر څو یې خپله د نظره نه کړي، زما او د هغې تر منځ شپې ورځې په داسې حال کې تېرېدلې، چې له یو بل څخه ډېر لرې و، تر ډېره مې د هغې نه لرې ژوند وکړ، په دې موده کې به مو یو بل ته د پیغام له لارې سلام کلام کاوه، د هغې د ژوند چارې اوس ښې تېرېدلې، د غربت تږلې خاطرې یې له ذهنه ویستلې وې، کله کله به یې زما تیلیفون ته هم ځواب نه ویلو، خو بیا به یې له یو څه ځنډه وروسته په معذرت غوښتلو راته زنګ وواهه، یو

Made with Xodo PDF Reader and Editor



شپېه به يې د خپل ژوند په اړه کيسې کولې، ژوند هم ډېر عجيب دی. له دې مخکې، چې به يې زنګ راغی، په غوږ کې به يې مينه له ورايه ځرګندېدله. خو اوس يې د خبرو انداز يو څه بدل شوی و، د زړه لېوالتيا يې کم رنګې ښکارېده، ډېر وخت به يې د خپلو چارو او بوختيا په اړه خبرې کولې، ماضي ته يې هيڅ ارزښت نه ورکاوه. خو ما به بيا د هغې زړې خاطرې وريادولې.

هغه ډېره بې پروا معلومېده. اوس يې د مينې مسکا ته د خپل غرور قيمت ټاکلی و. د ژوند پرمختګونو يې د ژوند زاويه بدله کړې وه. د ژوند مارغه يې يوازې په ازاده فضا کې د شنو ورشو په هسکه ارتفاع پروازونه کول. ښايي د ژوند ټول ارمانونه يې پوره شوي و. دايې د ژوند پرېکړه وه، چې د زړه دنيا ته يې بايد هر څوک رانتوځي او بېرته لاړ شي، په مادي نړۍ کې د ډېری خلکو ژوند، چې له اړتيا او له پلوه بسيا شي د خودغرضۍ لالچ يې له ماضي څخه بې پروا کوي.

حسنا، چې غوښتل يې يوازې خپل د مينې دنيا له يوداسې چا سره ودانه کړي، چې هغې ته په زړه کې ځای ورکړي تر لاسه نه کړ. خو اوس يې د ژوند معنوي ارزښت له مادياتو قربان کړی. د هغې ژوند د يو استخبارتي کارمند په څېر ګرځېدلی او له همدې چارو خوند اخلي، چې له يو چاسره داستان پيل او بيا يې د هغه په رسوايي پای ته ورسوي.

په مغروره نړۍ کې چې کله هم انسان بې باکه قدم کېږدي بيا د نورو انسانانو تر منځ د ژوند په سيالۍ کولو کې له ژونده خوند اخلي. د هغې ژوند هم تر همدې برېده رسېدلی و. چې تل به يې خلک د خپلې مينې په جال کې راګيروه او بيا به يې په يو بې سر نوشته سمندر لاهو کړ، خو په دې سمندر کې لاهو کېدو يې بسنه نه کوله. تر څو به يې د خلکو پر ورانډې پر ټولو پټو رازونو اعتراف نه و کړی. سره له دې چې دا بې باکې

Made with Xodo PDF Reader and Editor



او رسوايي یې د خپل ژوند په اړه هم وه خو دا یې د ژوند مشغولتیا ګرځېدلې وه.

د تیلیفوني مکالمو ثبتول، د هغه انځورونو رسوال کول، چې یو څا به ورته د مینې د اظهار په پار استولي و، هغه به یې له نورو سره شریکول.

په مادي نړۍ کې انسان څو مخه لري او د هر مخ پېژندل یو ناشونی کار دی، په ځانګړي ډول په یوه سنتي او عقیدوي ټولنه کې دلته پاک زړونه او په پاک زړه ژوند کول انسان ډېر خله له پښېمانتیا سره مخ کوي.

زما زړه، چې تر ډېره د هغې پر ورانديې یو اڅې د مینې په تړاو سپېڅلی و او موخه مې د هغې د ښې راتلونکې او په پاکه مینه د هغې د زړه دنیا ودانول و، خو وخت ثابته کړه، چې دا هر څه ډراماتیک ډول پر مخ تلل. هغه مینه او لېوالتیا، ناقلاري، مجازي اسویلي، مجازي اوښکې دا هر څه د همدې لوبې یوه برخه وه.

هغه اندېښنې، چې ما د هغې لپاره د هغې نژدې ماضي په کیسو کې چې دواړه په کې ښکېل و او نژدې وه، چې یا مو ژوند د لاسه ورکړی وی او یا هم د عمر تر پایه د ژوند په یو تور داغ له نړۍ محروم شوي وی خو وروسته پوه شوم، چې دا د لوبغاړې لخوا یوه طرحه شوې نقشه وه تر څو په مادي نړۍ کې د خلکو ژوند قرباني کړي. خو له دې هر څه سره بیا مې هم ورسره په زړه کې پاکه مینه ساتله. زما هیله همدا وه، چې یو وخت به مې تدبیر او تقدیر دواړه د ژوند رضایت تر لاسه کړي، له یو بل سره به د مینې ژوند ولرو، خپلې خوښۍ به د عمر تر پایه د یو بل سره وپالو او په همدې خوښۍ به د خپل ژوند کیسه پیل او پای ته رسو.

د وخت له حالاتو ډېر خفه شوم، زړه مې هم مات شو خو بیا مې هم ځان ته ډاډ ورکاوه، چې ښایي زه به غلط یم. څو وارې مې ځان په ازمېښت

Made with Xodo PDF Reader and Editor



کې واچوه او په دې ازمېښت کې مې کله هم هغه نه وه راښکېل کړې، یواځې مې د ځان په اړه تر سره کړه. څو وارې مې د هغې سره د مینې اظهار بیا راتازه کاوه، خو بیا به چې خبرېدلم، زما پیغام به تر نورو ډېرو غوږو ته رسېدلی و. خو کله مې هم ګمان نه کاوه، چې حسنا به زما پر وړاندې توپیري چلند کوي. فکر مې کاوه، چې مینه هغه وخت لا پیاوړې کېږي، چې تر منځ یې غمازان او رقیبان راشي او بیا د مینې په سیالۍ کې کامیابېدل د انسان خوښي لا پسې زیاتوي. زه تل د همدې خوښۍ د تر لاسه کولو په هڅه کې وم. پر نړۍ مې هیڅ پروا نه وه، خو کله چې به مې د هغې بې غوري او نظر اړول را په زړه شول، نو سترګو ته به مې اوښکې راتلې، دا هر څه به مې د وخت او حالاتو مجبوري ګڼله، او ویل به مې، چې مادي نړۍ کله هم دا نه غواړي څو دوو زړونو د مینې کیسې د ژوند تر بریا ورسېږي.

نور مې زړه کلک کړ، د ژوند ټولې سختۍ مې ځان ته مخاطب کړې، له مادي نړۍ مې کرکه پېدا شوه، دلته هر څوک د مطلب پردې په سترګو راخوروي او د خودغرضه نړۍ په دې جال کې ډېرې د رېښتني مینې زړونه هم قرباني کېږي.

زما په ژوند کې اوس د هغې لپاره داسې څه نشته، له خپل نفسه مې د دروغجنې نړۍ پر وړاندې وعده واخېسته، چې نور به کله هم د یو چا د ژوند په بې وسۍ باور نه کوم او همدلته مې د هغې نوم په وروستي ځل یواځې د قلم په ژبه د دې کتاب وروستۍ توری د هغې د تل پاتې مخه ښې په پار ولیکه.

Made with Xodo PDF Reader and Editor

**ضروري خبرتیا :** لوستونکي که ته هم نوي کتابونه لرې او تر اوسه نوي PDF شوي ، نو سکن یې کړئ د ثواب په نیت او موږ ته یې را واستوه چې موږ یې تر زرهاوو مسلمانانو ورسوو ، او سکن کول دومره سخت کار نده . یا هم لیکوال یاست که مو ناول یا هم هر قسم کتابونه لیکلي وي ، په خپرولو کې موږ مرسته درسره کوو ، ان شاء الله چې تاسو اجازه راکړئ موږ به یې نشر کړو که په هره ژبه او هره برخه کې وي ، تر څو موږ یې له نورو مسلمانانو سره شریک کړو او په ثواب کې سره شریک شو ، او ما سره په دغه لاندې نمبر په ټلیګرام کې رابطه کولای شئ : +93789212634 📱

**یادونه :** ورورڼو / خویندو که تر اوسه هم زموږ سره نه یاست یو ځای شوي نو په فیسبوک او ټلیګرام کې مو په سرچ سره پیدا کولای شئ یوازې په پښتو یا هم انګلیسي رحماني کتابتون ولیکئ پیدا به مو کړئ او په ټلیګرام کې مو د لاندي بټني او یوزرنیم یا سرچ سره پیدا کړئ او که په واټساپ کې له موږ سره یوځای کیږي په هغه پورته نمبر رابطه وکړئ چې لینک درکړم او بل خپل ملګري مو هم درسره راولئ ، زموږ د کتابتون کورنۍ تاسو ته سترګي په لاره ده نو ژر له دغي خوږي کورنۍ سره یوځای شئ.!

Join

@RahmaniLibrary1

@PaktekawalAfghan